

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: شپېلۍ

ليکوال :: عبدالباري جهاني

د چاپ کال :: ۱۳۸۱هـ ش کال

خپروونکی ::صحاف نشراتي مؤسيسه

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

دشپېلۍ د چاپ ټوله حقوق د خپروونکي اودانلائن حق ئې يوا ځي د بېنوا پاڼي سره محفوظ دي، نوري ويب پاڼي ددې کتاب شعرونه د ماخذ په ښوولو کاپي کولای شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جهاني خو دا ځل له "شپېلۍ" سره

"که د غليم په وينو سره توره مي رانه وړله

موري د ورور په وينو سره لاسونه نه لرمه

که د ناموس د غليم خويندي مي سرتوري نه کړې

پر غليمانو مي د خويندو ستر نه پلورمه

که خپل مورچل مي په سرو وينو لمبولی نه دی

ستا د پلو د دښمنانو سنگر نه ساتمه"

ښاغلی شاعر عبدالباري جهاني د پښتو د نوي شاعرانه دوران، په هغو نومياليو شاعرانو کې راځي چې پر خپلو شعرونو يې دغه شاعرانه بهير ښکلی کړی، رنگين کړی او ځلولی دی. له دغې شعري ټولگي څخه وړاندي چې دا دی د "شپېلۍ" په نوم ستاسو په لاس کې ده د شاعر درې نورې ټولگې هم خپرې شوې دي : "ورکه مېنه"، پايکوب" او "د سباوون په تمه" او هغه ټکي چې ښاغلی جهاني يې زما په نظر، زموږ په معاصره شاعرۍ کې زيات ځلولی او د ده د شعر هنگامې يې هري خوا ته خپرې کړې دي، په دې ډول شمېرلی شو:

ــ 1د جهاني په شاعرۍ کې، د افغانستان د مقاومت د شاعرۍ ډېرې سترې او لومړنۍ بېلگې خوندي دي. جهاني هغه شاعر دی چې پر افغانستان د کمونېزم او سور يرغل په وړاندې د مقاومت د پيلامې هنگامې يې تودې کړې، دغه بېلگه يې له غميزې مخکې زمزمه کړه خو لکه وروستيو حالاتو ته چې يې ويلې وې، داسې يې د مقاومت سندرېزه ډالۍ ترې جوړه کړه او د "ناشناس" خواږه غږ نور ښايست هم ورکړ:

دا د مستو پسرلی دی، دا د اور سبزه کوبي ده

هره پاڼه خماري ده، هر گلاب مو شرابي سو

را ايستلې توره راغی، د ساقي د وينو تږی

زموږ مستي چي يې ليدله شيخ پخپله خماري سو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګناه په خُم کي رنګ سول د زاهد د پګړۍ ولونه

پر هډوکو يې لړزه ده، ټينګ ايمان يې شيطاني سو

صف ته راغی د رندانو، د اغيارو له ټوليه

موږ يې زهرو ته بللو، خپل سوما يې زقومي سو

په موج خېزه هيبت راغلې د فلك سېلابي كرړي

زموږ ببرۍ يې ډوبوله خپل توپان يې توپاني سو

د خزان له هر سركوبه، سل پايكوبه پورته كيږي

هره ترخه نسترن دی، هر يو زوز مو ګلابي سو

اوروي صدفي څاڅكي، ښخوي د مستۍ تخم

هر نرګس ته يې جام وركړ، هر يو بوټی يې ياغي سو

رېږدوي د زړو تارونه د ګناه شېرينه تنده

ړنګوي د تقوا غرونه هر كلنګ يې فرهادي سو

د روسي يرغلګرو او د هغو د برېښو په وراندي د جهاني د شعرونو هنګامې، د افغانانو د سپېڅلي جهاد او مقاومت د ادبي سنګر په ډېرو ارزښتمنو تاريخي بېلګو كي د حسابولو وړ دي، لكه:

وايه شين آسمانه تا كوم بل چېرته ليدلي دي

داسي ارادې چي توپانونه خپلولای سي

داسي ولسونه چي سېلونه اېلولای سي

داسي كلك سوكونه چي ټانكونه اوبولای سي

دغسي سينې چي فلكي سېلاب راګرځوي

دغسي طغيان چي ياغي سوي سېلابونه خوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسي ناره چي اسرافيل ورځخه وربېږدي

دغسي قيامت چي دوړخونه خوري اورونه خوري

(تر پایه)

او يا لکه چي په "زما کندهاره" نومي مشهور شعر کي وايي:

زما کندهاره د زمرو وطنه

زما د سرکښو پښتنو وطنه

ځونه ياغي يې صدقه دي سمه

د نافرمانو جنگيالو وطنه

بيا دي ترنك توپاني سوی وينم

بيا دي ارغند په مستېدو راغلی

بيا ارغسان دی بيا موجونه وهي

بيا دي هلمند په خروښېدو راغلی

بيا د زړې توري د خرپ يادونه

بيا دي په سترگو کي اورونه وينم

بيا له ايوب سره لښکري راغلې

بيا د رېديو داستانونه وينم

لکه چي بيا دي ځه يرغل نيت دی

لکه چي بيا دي غورېدو ته زړه سو

لکه چي بيا دي ځه په زړه کي گرځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چي بیا دي خوځېدو ته زړه سو

زما کندهاره د زمرو وطنه

زما د سرکښو پښتنو وطنه

ځونه یاغي سوې صدقه دي سمه

د نافرمانو جنګیالو وطنه

ستا د پایلوچو تر پګړیو واری

ستا د تېرو تېغونو جنګ وګرځم

ستا له غرور څخه کاږه تګونه

ستا قهر وګرځم، ستا ننګ وګرځم

بیا د ملالي میوندۍ خرخښه

بیا تورپېکۍ د فرنګ خونه سوځي

بیا د بابا د پاني پت هنګامه

بیا شاه محمود اصفهانونه سوځي

بیا د ګرګین پر کور مرګی مېلمه دی

بیا د میرویس په نامه وغورېدي

بیا د اشرف د انتقام لمبه ده

بیا دي د قهر ویني وخوځېدي

بیا دي لمن له شهیدانو ډکه

بیا د کوچني غازي زانګو زنکوي

بیا دي په وریځو کي سېلونه ګرځي

بیا يې په غېږ کي زلزلې ویښوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما کندهاره د زمرو وطنه

زما د سرکښو پښتنو وطنه

ځونه یاغي يې صدقه دي سمه

د نافرمانو جنګيالو وطنه

د ښاغلي باري جهاني د دغه ډول شعرونو بېلګې بېخي زياتي دي چي د افغانستان د معاصرو ادبياتو په څېړنه کي به د مقاومت د لومړنيو، لوړو او سترو بېلګو په توګه، د مقاومت په ادبي تاريخ کي مطالعه او څېړل کيږي.

-2د ښاغلي عبدالباري جهاني د شاعرۍ د ګرانښت يو بل راز په دې کي پروت دی چي دغه شاعري له پيل څخه له يو ډول مستۍ، ياغي توب او "مستانه نافرمانۍ" سره ملګرې ده، د همدغه ټکي په پام کي ساتلو سره، جهاني د افغانستان په معاصره شاعرۍ کي ځانګړی دريځ لري. زما په نظر دی د افغانستان د معاصر پښتو شعر د دوو نسلونو تر منځ د ارتباط د کړۍ په توګه بايد په پام کي ولړو، د معاصر پښتو شعر د منځنۍ دورې د پای او د نوي شاعرانه دوران تر منځ د پيوستون د کړۍ په توګه. د داوُد خان د جمهوريت په دوره کي )چي د شعري سخت سانسور دوره هم وه( د ده د شعر هنګامې پيل شوې او شاعري يې له پيل څخه له نوښت او مستانه ولولو سره ملګرې وه. د جهاني په شاعرۍ کي دغه "مستانه نافرماني" د دوو کليشو او چوکاټونو په وړاندي راڅرګنده شوه:

الف :- د وخت د سرکاري او حکومتي چوکاټونو او "سرکاري شاعرۍ" په وړاندي.

ب :- د ټولني د هغه وخت د يو شمېر عنعنوي چوکاټونو په وړاندي.

جهاني په خپلو لومړنيو شعرونو کي هم د دغو دواړو چوکاټونو په وړاندي ودرېد او همدغه خبره ده چي فاضل استاد پوهاند رشاد يې "ياغي او مبتکر" شاعر بولي.

د شاعر د مستانه شاعرۍ بېلګي بېخي زياتي دي، خو راځئ يو څو نمونې يې ولولئ:

مور لېونو ته د حساب خبري مه يادوه

ستا تر دوږخ پوري پېرۍ دي، دلته شپې پاته دي

ته د ګناه بخري مينځې د پرهېز په اوښکو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهده پټي دي په وينو کي لمبې پاته دي

د جهاني شونډو ته نه راځي توبه زاهده

چي د قسمت په ميخانه کي پېمانې پاته دي

او يا دا چي:

دلته سرونه بېله کاڼو بل څه نه پېژني

دغه واعظ او دا کتاب په مدرسو کي ښه دي

ما لا تازه له خپل جانان سره وعدې نوي کړې

زاهده ستا حوري غلمان په جنتو کي ښه دي

منزل ته لاري د خلوت په تاريکو کي نه وي

څوك چي د حق نارې وهي په غرغرو کي ښه دي

-3لکه څنګه چي مخکي اشاره ورته وسوه، په افغانستان کي د ثور د غميزي او بيا د روس د يرغل په وړاندي، د جهاني شعر هم، د افغانستان د مقاومت په ادبي تاريخ کي د يادوني وړ ځای لري. په افغانستان کي د روسانو له ماتي او بيا تش په نوم د "جهادي او اسلامي" حکومت له جوړېدو او د شر او فساد له رامنځته کېدو او د ټوپکوالۍ له واکمنېدو وروسته، د افغانستان په خپل منځي جګړو کي چي څومره بدمرغۍ رامنځته شولې، دغو پېښو، د جهاني پر شاعرۍ هم خپل اغېز وکړ، له جګړې کرکه، له شعارونو کرکه، يو ډول ژوره ناهيلي، وير او ماتم د دغو شعرونو بېلابېلي ځانګړني جوړوي. هغه دا ځل هم شينکی آسمان مخاطب کوي دا ځل هم کندهار ته سرودونه او ترانې ليکي، خو د رزم د هغه مقاوم اړخ پر ځای د وير او هغه د ښاغلي محمدمعصوم هوتك په وينا "قنوطيت" په کي راڅرګندوي:

ما خو دا نه ويل شينکی آسمانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي به د اور د پاسه اور راځي

زما د غیرت شمله به کښته ګوري

زما هدیرې ته به پېغور راځي

آسمانه ما خو داسي نه غوښتله

چي د ښارونو جنازې وژاړم

چي مي په کلیو کي بلا لنګه سي

چي د ځوانیو هدیرې وژاړم

آسمانه ما خو داسي نه ویله

چي د کابل ګرېوان ته اور توی که

زما په جونګړه کي بلا وکړه

زما په لستوڼي کي ښامار لوی که

ما چي میوند میوند نارې وهلې

ما یې په غېږه کي ګلونه غوښتل

ما چي هلمند ته ترانې لیکلې

ما یې پر غاړه اتڼونه غوښتل

ما چي ټانکونه په سوکونو وهل

هغه مي خړ وطن سمسور غوښتی

ما چي سکروټې په غاښو چیچلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما مي سرو وینو ته اور غوښتی

(شعر تر پایه)

هغه وخت که شاعر، د مورچل ځوان، د وطن د دفاع لپاره له پردیو او د پردیو له نانځکو سره جګړې ته هڅاوه، اوس د انتقام او جګړې پر ځای، ځولۍ ورته غوړوي چي له مورچله راکوز شي:

ځوانه دا څوک یې چي ګولۍ اوروې
د خپل نیکه او خپل ابا پر کلي
دې هدیره کي دي خپلوان پراته دي
څوک یې پرون څوک یې پخوا ویشتلي

د خدای دپاره ځوانه مه اوروه
د خپل ابا پر مېنه سره اورونه

-4د جهاني د شعر په شهرت او محبوبیت کي د ټنګ ټکور او موسیقي ونډه هم د یادولو وړ ده. جهاني لکه چي خپله له موسیقي سره ځانګړې مینه لري، ځیني شعرونه یې د موسیقي یو خاص کیفیت لري. په تېره بیا د هیواد د نومیالي هنرمند سندرغاړي ډاکټر صادق فطرت )ناشناس( خواږه غږ د دغو شعرونو ښکلا نور هم زیاته کړې ده. ما د "جهاني او ناشناس" په اړه یو جلا مقاله هم کښلې او د خپلو خبرو په یو ځای کي مي کښلي دي:

"یوه ورځ چا خبره راته وکړه : د جهاني شعرونه ځکه دومره شهرت ته رسېدلي دي چي د ناشناس له سندریز غږ او د ټنګ ټکور له څپو سره یو ځای شوي دي. بله ورځ یو بل چا راته وویل : د ناشناس د سندرو د ښایست او ارزښت یو اساسي علت دا دی چي هغه د خپلو سندرو لپاره د شعرونو په انتخاب کي ډېر ژور او "سختګیر" دی. هغه د سندرو لپاره د نومیالیو شاعرانو د شعرونو غوراوی کوي لکه : خوشال بابا، حمید مومند، رحمان بابا، استاد حمزه، جهاني او...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په نظر دغه داوړه خبري بې ځایه نه دي. د جهاني د شاعرۍ په شهرت کي به د ناشناس د سندریز هنر له اغېز څخه سترګي پټي نه کړو. دغه راز د ناشناس د سندریز هنر په ښایست او ځلونه کي هم د جهاني په څېر د شاعرانو د شعري پیاوړتیا له اغېز څخه سترګي نه شي پټېدای لکه دواړه چي یو د بل بشپړوونکي وي"...

-5د ښاغلي جهاني پر شعر د محتوا او هنر له هغي پیاوړتیا سره سره چي مخکي خبري پرې وشوې، تر یو وخته د فورم، وزن او چوکاټ له پلوه یوه داسي "کلیشه" غالبه وه چي د هغه شعري ښکلا ته یې د هنري تنوع پر ځای، یو رنګي وربخښله او "مونوټون" کاوه یې. دا په خپل وخت کي د پښتو په نوې شاعري کي یو نوی ګام و چي د یو ډول څلوریز ډوله نظم په چوکاټ کي وړاندي کېده او د ازادي شاعرۍ پر لور لومړني ګامونه وو چي په تېره بیا د حماسي شعر لپاره د وخت غوره انتخاب و، خو بیا بیا تکرار یې نوښت کماوه او پر تکراري چوکاټونو یې بدلاوه، داسي ښکاري چي شاعر وروسته بیا د دغه تکرار پر ځای د چوکاټونو رنګارنګۍ ته هم خپله پاملرنه اړولې ده. په را وروسته شاعرۍ کي یې د نوي غزل او آزاد شعر پر لور هم په زړه پوري ګامونه اخیستي دي.

د جهاني غزلیزه شاعري، په پرله پسې توګه د ښکلا او پیاوړتیا پر لور روانه ده او له یوې ټولګي څخه بلي ته د لا زیات ښایست لرونکې ده:

دا میکده په نڅېدلو ارزي

ساقي دا جام دي په څښلو ارزي

چي لېونتوب ته عقل وتخنوي

دا زولني په شرنګېدلو ارزي

چي یې کیسې د میني تخم کري

هغه وزر په سوځېدلو ارزي

او:

خمار مي نه ماتېږي شرابونه بېګانه دي

ساقي راته اشنا دی خو جامونه بېګانه دي

سجدې ته یې د یار کوڅې ته نه یمه بللی

پردی قاصد راغلی پېغامونه بېګانه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ښار کې ربابونه د سنګسار په غېږ کې غواړه

نغمې ګوتو کې ژاړي شهبازونه بېګانه دي

چې زما د لېونو چغو جواب ورسره نسته

یا زه یم بدل سوی یا دا غرونه بېګانه دي

سجدې د جهاني پر تندي مه غواړه زاهده!

په دې سرکښه ښار کې محرابونه بېګانه دي

تر دې ځایه پوري نژدې ټولي خبري د ګران شاعر عبدالباري جهاني د هغو پخوانیو شعري ټولګو د بېلګو پر بنسټ وشوې، چې مخکي خپرې شوي دي : "ورکه مېنه"، "پایکوب" او "د سباوون په تمه"، اوس خو دا دی شاعر "شپېلۍ" راته غېروي او دا ځل د شپېلۍ د سندریز غېږ له ښایست سره د خپل شعر ښایست یو ځای کوي.

په دې توګه نو دغه "شپېلۍ" د شاعر ځلورمه خپرېدونکې شعري ټولګه ده. سره له دې چې د "شپېلۍ" ټول شعرونه د سریزي د کښلو لپاره زما مخي ته نه دي پراته، خو زه باور لرم چې ټول او یا زیاتره به یې ما په جرمني، هالنډ، ډنمارك او سویډن کې د ښاغلي جهاني په وياړ د افغاني بېلابیلو کلتوري ټولنو په غونډو کې د ګران شاعر په خپل غږ کې اورېدلي وي. له نېکه مرغه په دغو غونډو کې زه هم حاضر وم او د یو څو خو یې ویډیویي پټې )کیستې( هم لرم.

د "شپېلۍ" د شعرونو په اړه او یا خو غوره ده ووایم چې د جهاني د را وروسته شاعرۍ په هکله، څو ټکو ته په لومړي ګام کې پاملرنه پکار ده:

-1لومړنۍ خبره دا ده چې په دغه مجموعه کې زموږ د ښاغلي شاعر، د شعري يون د پرمختګ ډېره غوره ننداره کولای شو. شاعر په دغو بېلګو کې د ښایست نوي نښې نښانې او نمونې زموږ مخي ته ږدي او د پښتو شعر بهیر ته یې ډالۍ کوي. د شاعرانه ژورتیاوو او لوړ تخیل نمونې د هغه په نوي شاعرۍ کې لا زیاتې شوي دي:

کلونه تېر سوله کیسې د ښاره نه راوزي

زېرى به نه غواړو ګیلې له ښاره نه راوزي

نه د زړې میني داستان دی نه د نوي کړیکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رویبار ګونګی دی خاطرې له ښاره نه راوزي

د پتنګانو وزرونو سوځېدل هېر کړي

زمور ماښامونو ته ډېوې له ښاره نه راوزي

دا د عمرونو جنازه دلته چا وټومبله

رغ د رباب او د نغمې له ښاره نه راوزي

کلابندي ده نور وتلای نه راوتلای سي څوك

مېړونه چيري دي شملې له ښاره نه راوزي

او يا لکه چي په يو بل غزل کي وايي:

دا څه جنون دی تر منزله رغړېدل چي نه وي

دا څه منزل دی په لمبو کي سوځېدل چي نه وي

زاهده خوله دي د دوږخ په کيسو ستړې کړله

دا څه خليل دی تر انګاره پوري تلل چي نه وي

پښېمانه نه يم شيخه مه رايادوه قولونه

دا څه توبه ده په زر ځله ماتېدل چي نه وي

(ترپایه)

-2د شاعر په نوې شاعرۍ کي د جولې او منځپانګي )فورم او مضمون( دواړو تنوع تر پخوا زياته راڅرګندېږي. دلته هم منظوم ډوله شعرونه شته، هم د قصيدو بېلګي په کي وينو، د ښکليو او لوړو غزلو ننداره هم کولای شو او بې له شکه چي دغه غزلي د شاعر د پخوانيو دريو ټولګو له بېلګو زياتي، لوړي او ښکلي دي. د آزاد شعر بېلګي هم په کي وينو چي له هنري پلوه د لا زياتي پاملرني وړ دي.

-3څرنګه چي په دغو شعرونو کي د هيواد د حالاتو ژوره انځورګري شوې ده او له بده مرغه د وطن حالات داسي دي چي د ښادۍ پر ځای يې د وير شېبې زياتي او درنې دي، شاعر هم زياتره د همداسي شېبو شاهد او انځورګر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. ما چي مخکي د کومي "ناهيلۍ" يادونه کړې وه، په وروستيو بېلګو کي نه يوازي دا چي دوام کوي، دغه د نا اميدۍ درد لا ژور او غمګين دی. په دې لړ کي کېدای شي د:

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره؟

په نوم نظم او ځينو نورو شعرونو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

-4د شاعر په وروستيو شعري بېلګو کي د هغه منظوم داستاني او حکايتي شعرونه د لا زياتي پاملرني وړ دي. زه د ښاغلي جهاني د شعر په بېلابېلو غونډو کي د دې شاهد يم چي دغه لنډ منظوم داستانونه دومره اغېزناك دي چي د ګران شاعر له نورو ډېرو خوږو شعرونو څخه هم، له زياتي بدرګې سره مخامخ شوي دي او بيا بيا يې د اورولو ټينګار شوی دی.

په دغو کيسو کي يې نظمونو کي د نمونې په توګه د "موږك شېر"، "د پيشو توبه"، "شيخ نصرالدين"، "چرګ او باز"، "مهار کړي اوښان" او يو شمېر نورو يادونه کولی شو چي د کيسې په څنګ يې لنډ شاعرانه پيغام هم د غور وړ دی، چي په ډېر منطقي انجام کي راځي، لکه:

چي د بل په متيو غټ سي يا زمري سي

په هغه ګړي له قام څني پردي سي

چي يې عقل خدای موږك غوندي کوچنی کړي

يوه ورځ پر خپل بادار باندي غورځی کړي

يا:

له ازله مو نصيب راغلی خوار دی

چي لوېدلی مو د بل په لاس مهار دی

جهاني د پښتو د اوسني شعر له نومياليو مخکښو شاعرانو څخه دی، جهاني د افغانستان د اولس د ژوند په ډېر غمګين پړاو کي، ډېر پرتمين شعرونه زمزمه کړي او لا يې زمزمه کوي، په دغو زمزمو کي به هماغه جهاني وګورئ خو دا ځل له "شپېلۍ" سره، او د سندريز غږ له ښايست سره. ورته غوږ شئ، وايې ورئ، ويې لولئ او خوند ترې واخلئ:

جهاني مه بوله ساحل ته لامبوزن لاسونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ياغي مالت وګړي په بلا پسي ځي

په مينه

زرين انځور

3/9/2001ع

12/6/1380لمريز

جرمني � د کولن ښار

## مناجات

کور په اور کي د اغيار درڅخه غواړم

د جانان غليمان خوار درڅخه غواړم

چي غماز مي د جانان په کور کي بولي

ژبه ګونګه د رويبار درڅخه غواړم

که تر مرګه پکښي ځان يوازي وينم

د هيندارو کور سنګسار درڅخه غواړم

چي مي سترګي بې جانانه بل څوک ويني

ځان منصور غوندي پر دار درڅخه غواړم

د سبا په شان بې نومه بې روبياره

کور پر سترګو د دلدار درڅخه غواړم

چي رقيب مي د لحد له کيسو کوڼ سي

ستا په نوم کي پټ مزار درڅخه غواړم

چي نمرود مي ستا د ميني په تور سوځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند په غېږ کي د انګار درڅخه غواړم

په شبنم، په آیینه، په ګرېوانه کي

مخ، جلوه، ذکر د یار درڅخه غواړم

چي بورا رنګه مي مینه افسانه سي

تل سینه ځیري په خار درڅخه غواړم

چي پانوس غوندي په خپل اور کي رنګین یم

د کوګل وینه مي نار درڅخه غواړم

یو يې نوم غواړم په وینو کي کرلی

یو په سترګو کي نګار درڅخه غواړم

یو مي سوال جواب د قبر په پښتو کې

یو لحد پر کندهار درڅخه غواړم

چي یوازي جهاني درځي درشل ته

د سکروټو پر سر لار درڅخه غواړم

2000- 11- 8

⊠

زه لکه پرخه په لوېدلو کي چا نه ولیدم

لکه نسیم په تېرېدلو کي چا نه ولیدم

د ګل په غېږ کي مي یوه شپه په قسمت لیکلې

لکه شبنم په الوتلو کي چا نه ولیدم

پټ له پانوسه مي رنګین کړل د ساقي لاسونه

کرار کرار په سوځېدلو کي چا نه ولیدم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د شاعر نه د بورا سترګو ته ونځېدم

د غرونو ګل وم غوړېدلو کي چا نه ولیدم

نه تر اوربل نه تر ګرېوانه نه تر شونډو ولاړم

پر آشیانه په رژېدلو کي چا نه ولیدم

خواږه خوبونه د ځوانۍ لکه سېلۍ تېرېدل

د خیال ماڼۍ وم نړېدلو کي چا نه ولیدم

لکه نفس چي د عمرونو له محبسه وزي

د زولنو په ماتولو کي چا نه ولیدم

لکه بېړۍ کوګل مي ډك له فریادونو وړمه

شپه د توپان وه ډوبېدلو کي چا نه ولیدم

د حق نارې مي له زندانه تر یزدانه تللې

د افسانو په جوړولو کي چا نه ولیدم

د جهاني په شان مي شپې کړې د یارانو سپیني

په تورو ورځو ژړېدلو کي چا نه ولیدم

ویرجینیا

1999ډسامبر

⌧

ستا د راتلو په انتظار کرار کرار زوړ سوم

رویباره کله به راځې په انتظار زوړ سوم

د مرغلرو سوداګرو مي تپوس ونه کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لونګینه چا یو نه وړم پر بازار زوړ سوم

ما خو ویل چي په لمبو کي تر منزله ورځم

لکه قدم پر مځکه ولوېدم پر لار زوړ سوم

د خزانونو له هیبته يې خوله خلاصه نه کړه

د ګل په تمه د غوټۍ څنګ ته پر خار زوړ سوم

یوه شپېبه مي زولنو سندره غبرګه نه کړه

د لېونو سره په کلي کي هوښیار زوړ سوم

چا مي له سترګو سره دوې اوښکي ملګري نه کړې

لکه خاټول په رنګ رنګین په زړه پرهار زوړ سوم

نور مي خیالونه په خوږو نکلونو مه بیدوه

زه له شپو ستړی یم په هیله د سهار زوړ سوم

تش د دوږخ له بېري وچي شونډي نه ګرځمه

یارانو څُم لره راغلی وم څُمار زوړ سوم

د جهاني پانوس کوګله لمبې مه سپموه

لکه پتنګ په ارمانونو د انګار زوړ سوم

ویرجینیا

1998اپریل

☒

شپېې د انتظار دي په لېمو درته ساتو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغزي نه دي دا لاري په بنو درته ساتو

په شرنګ چي مو ټولۍ د غمازانو ویښه نه سي

محرم به لېونتوب د زولنو درته ساتو

ازل مو نذرانه د سوځېدو منظوره کړې

هر پل دي تر درشله په لمبو درته ساتو

چي سترګي د رقیب دي په جلوه روښاني نه سي

جانانه رباتونه په تیارو درته ساتو

ستا شپې دي وي روښاني موږ دي سوځو لکه شمعي

پېړۍ دي په پانوس کي په ګزمو درته ساتو

وعده مو له فریاد او له قسمته سره کړې

دردونه لکه ژبه د زخمو درته ساتو

یوه شپه یو راغلي بې اختیاره بې خبره

شبنم غوندي مو کډي پر غونچو درته ساتو

نن جنګ ته یو راغلي جهاني ستنېده نسته

مورچل په ککریو په پښتو درته ساتو

ویرجینیا

2000 � 6 � 12

ځوانۍ ستا پر اوږو د جنازو پر کلي راغلو

د اوښکو په ګامونو د لېمو تر کلي راغلو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کاڼی مو جلا له ککرۍ سره اشنا دی

په شرنگ د زولنو د لېونو پر کلي راغلو

پتنگ غوندي نصيب راته منلې وه دا لاره

محفل ته دي جانانه د لمبو پر کلي راغلو

معذور يو که نن توان د الوتو راپکښي نسته

سوځلي گلستان ته د اغزو پر کلي راغلو

پيدا چي درته تمه نه سي زموږ د رغېدلو

خولې د زکندن يو د سلگو پر کلي راغلو

زر ځله به سي بندي د جانان د ديدن لاري

د پرخي د لښکر غوندي د شپو پر کلي راغلو

ساحله د توپان کيسه يوه شېبه که هېره

مړژواندي وزر ماتي د څپو پر کلي راغلو

يو ټك له سره باسو نگهبان له بدو سترگو

په چم د سپېلنيو د اورو پر کلي راغلو

له ژبي د فرياد سره مو ستونی پخلا نه کړ

د درد په شاني زړه ته د زخمو پر کلي راغلو

سجدې يې پر تندي د جهاني منظوري نه وې

زاهده له توبو د ميکدو پر کلي راغلو

واشنگټن

2000 � 8 � 28

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزلیزه برخه

کلونه کیږي له دې ښاره کیسو کوچ کړی دی
د آدم خان له شهبازونو درخو کوچ کړی دی
په هغه دښت کې د مجنون غرغړې وچې سولې
د لېونیو له مزلونو اغزو کوچ کړی دی
نه په محفل کې بلېدل نه سوځېدل یادېږي
د پتنګانو له مذهبه لمبو کوچ کړی دی
څنګه به ستون سي له خزانه تورېدلی بلبل
چې له چمنه د ګېډیو وږمو کوچ کړی دی
اوس یې شرنګی د نیمو شپو سندري نه تخنوي
له سپینو لېچو سرو لاسونو بنګړو کوچ کړی دی
د زلېخا مینه د چا لمنې نه توروي
اوس له خوبونو د یوسف قافلو کوچ کړی دی
د تور جادو افسون وهلي دي د غرو لمنې
نن د شپېلۍ له منترونو نغمو کوچ کړی دی
جهاني څوك به پر لنډیو غزلونه لیکي
چې له ګودر څخه د پېغلو نارو کوچ کړی دی

ویرجینیا

2000 � 8 � 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠

بیا يې په محفل کې نن له پام څخه لوېدلی يو

ګوره د ساقي تر نظر څنګه ورغلي يو

هره شپېبه موږ ته زنداني خوبونه مه راوړه

شرنګ د زولنو ته له کنعان څخه راغلي يو

نن دي عبرتونه له هوښيارو سره وخاندي

موږ د لېونيو په اتڼ ور کښېوتلي يو

پل چې مو د پله پر سر ايږدې رقيبه پښه نيسه

موږ چې له ازل څخه راغلي يو ښاغلي يو

مه راځه ساحله چيري موږ چيري دا ستا سکون

موږ يې سمندر ته د توپان په شپه لېږلي يو

نور مو تماشه کوي که خپله ننداره کوو

پوه نه سوو شبنم غوندي يې څو شپېې بللي يو

هره ورځ د ستورو په حساب لمبې په خوله کې وړو

موږ له خپلي ژبي لکه شمعي سوځېدلي يو

موږ خو بې اختياره د نعمت پر خوان ور پرېوتو

ګوره چې سخي کور به لا څو ورځې منلي يو

پرېږده جهاني له دې وزره د پرواز تمه

غشي د نصيب چې پر شهپر باندي ويشتلي يو

ويرجينيا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2000- 10- 12

☒

لا به تر څو وینو ملګرو دا د غم خوبونه

د جنازو سره ملګري د ماتم خوبونه

څئ له آسمانه سره یوه کو دا زړه خبره

یا دي اختیار وي یا دي څغلوي قلم خوبونه

نور به پخپله د خوبونو تعبیرونه کوو

پردي لا ولي ګوري موږ ته سم نا سم خوبونه

بوډي آسمان ته نوري مه نیسئ د خیر لمنې

په دي کږه ملا یې د ډیرو کړل برهم خوبونه

پیر مُغان ویله خپلي آیینې سپینې کړئ

کنه حرام دي د سکندر او جام جم خوبونه

یوه منزل ته نه رسیږي بېلي بېلي کوڅې

دي سرابونو ډیرو وخوړل د یم خوبونه

نن د شیطان په لمسه غاړه د هابیل غوڅوي

سبا به ویني ویني ژاړئ د ستم خوبونه

جهاني نور نو د قسمت په خوښه نه یو روان

راویښوو په لویه لار کې هر قدم خوبونه

ویرجینیا

2000- 12- 8

☒

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څو رنځوري شپې دي په لېمو یې زنګوو

شېبې د انتظار دي په کلو یې تېروو

دا ښار د نازولو دی چا درد نه دی لیدلی

تر څو به په زګېروي ورته زخمونه ویښوو

کلونه د سبا د جنګ په هیله خاوري کیږي

نن وزو له توپان سره خبره سپینوو

عمرونه له مطرب سره بې سوره نغمې ژاړي

ساقي په دې رباب کي نوی شرنګ پیدا کوو

چي ستا سره ښخېږي د هغې ګناه په ګوتو

قسمته له تندي څخه سجدې دي پاکوو

راپرېږده د ساقي سپینو لاسو کي سره شراب

واعظه ته رخصت یې موږ اورونه قبلوو

چي لوېږي مي زلمی ساقي په غېږ کي له مستۍ

جنت زاهده ستا سو موږ خمونه تشوو

ځوانۍ چي ګمراه نه کړ د خلوت په تاریکو کي

دا شپې راڅخه تښتي ځو توبې به ماتوو

هستي مو جهاني د عزراییل په غېږ کي غواړه

مستي لا په سلګیو کي د سره پاڅوو

ویرجینیا

2000- 8- 15

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاله نیمه دي ولوېږي نظر په ماتوم

نن داسي مستي غواړمه ساغر په ماتوم

ژړ مخی به در نه سم په کوڅه کي لېونتوبه

څو کاني مي راوړي دي خپل سر په ماتوم

چي تمه د پرواز مي پاته نه سي په سینه کي

په غشیو کي در الوزم وزر په ماتوم

ستا شپې ته مي جانانه سره لمبه په خوله کي راوړه

د شمعي په څېر ژبه ده منتر په ماتوم

که سیوری غوندي ورك یم له تروږمۍ سره پر لارو

معلوم په هر قدم یمه سفر په ماتوم

شهیدي کربلا ته په جنگ نه یم در وتلی

غازي زور مي راوړی دی لښکر په ماتوم

شپېږي د انتظار دي تر لحده پوري وړمه

دا شپه مي سبا نه کي زه سحر په ماتوم

نفس د زکندن یمه په ستوني کي گنډلی

یو جام د اجل غواړمه کوثر په ماتوم

قسمته نن په خپله خوښه ستا له غېږي ځمه

قلم پر تندي کاږمه دفتر په ماتوم

په نوم د جهاني چي دي لیکلي دي آسمانه

توپان درڅخه غواړم سمندر په ماتوم

ویرجینیا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2000- 9- 12

☒

نور به له رقیب سره د کور خبري نه کوو

ويني به سرې کو د پېغور خبري نه کوو

څله د پرديو د خوښۍ دپاره وسوځو

نور به وزر وساتو د اور خبري نه کوو

ولي خپلي ځانګي د جنون تېشې ته ونيسو

ځان چي تربور سوی دی د زور خبري نه کوو

ځئ چي د قسمت پر تندي خپلي کرښي وليکو

پرېږدئ له قاتل سره د ورور خبري نه کوو

ډېر مو له فرياده د رقيب کيسې شريني سوې

درد غوندي به پټ وزو د شور خبري نه کوو

زموږ لا په شهپر کي د آسمان خوبونه پاته دي

مرګه ځوانيمرګه لا د ګور خبري نه کوو

نن به جهاني بې وزرونو پروازونه وي

پرخه غوندي الوزو د لور خبري نه کوو

واشنګټن ډي سي

2002- 2- 19

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منظم او ازاد شعرونه

زما کندهاره

زما کندهاره د زمرو وطنه

زما د سرکښو پښتنو وطنه

د اتلانو د کیسو وطنه

د میدانونو خرخښو وطنه

داسي مي نه غوښتې چي نن دي وينم

په تن زخمي په سره کفن دي وينم

نه دي هلمند هغه موجونه راوړي

نه له مستۍ په خوله ځگونه راوړي

نه د ارغند غاړي گلونه راوړي

نه دي ترنك زاړه سېلونه راوړي

نه دي دښتو کي قافلې وينمه

نه دي کېږديو کي ډېوې وينمه

نه د رابیا له ميني مست فتح خان

له کلابُسته قهرېدلی روان

نه ورسره دي د برېښو ياران

نه د مغولو په پوځ گډ دی تالان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې شپېلۍ دي په برېتو اغوستي

نه يې سرونه په نېزو اغوستي

نه چا ته کور نه چا ته بام پاته دی

نه د کيسو د شپو ارام پاته دی

نه د بيبو د خولې پيغام پاته دی

نه ښادي خان نه دلارام پاته دی

نه په زلمۍ مينه کې شور خوځېږي

نه په رګو کې د چا اور بلېږي

نه د احمد د توري شرنګ وينمه

نه يې لښکري نه يې جنګ وينمه

نه پاني پت په وينو رنګ وينمه

نه سينې ځيري په خدنګ وينمه

نه مرهټيانې ميندې بوري ژاړي

نه پښتنې په تېرو تورو وياړي

اوس دي پر کليو جنازې را اوري

له پېغلو سترګو اوښکې سرې را اوري

له خپل قسمته درته شپې را اوري

پر سپينو ورځو دي تيارې را اوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هدیره د افسانو یې زموږ

ګور د زلمیو ارمانو یې زموږ

اوس له آمو تر اباسینه خاوره

له وینو مسته سره رنګینه خاوره

هغه درنه هغه سنګینه خاوره

هغه تر خپل ښارګ شېرینه خاوره

وربانديي ګرځي د اورنګ آسونه

د پردۍ سولي پردي جنګ آسونه

اوس دي په لار کي رقیبان پراته دي

اوس دي په عرش کي شیطانان پراته دي

پر خزانو دي ښاماران پراته دي

په کوه قاف کي دي دېوان پراته دي

لاري کوڅې دي د اغزو ډکي دي

یاغي درې دي له لمبو ډکي دي

ما خو به ستا په نوم فالونه کتل

ما له قسمت سره سوکونه وهل

ما دي په غېږه کي ګلونه لیدل

ما دي تندي کي جنتونه ویل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مي په زړه کي ستا يادونه ژاړي

هره غزل کي مي بيتونه ژاړي

لا مي د وران قسمت خوبونه وينم

لا دي په برخه توپانونه وينم

لا په غضب د آسمان خونه وينم

لا د ډبرو بارانونه وينم

لا به د دوست په نوم درځي غليمان

لا به دي وژني د لستوڼي ماران

راسه چي ويني ته دي اور درکمه

زاړه جنون ته به دي شور درکمه

څو لېونۍ چيغي په پور درکمه

زخمي لمبو ته به دي زور درکمه

راځه يو مسته پياله بنگ پورته کو

يو ځل به بيا د توري شرنگ پورته کو

راځه چي بيا د افسانو په ژبه

د ملالۍ او د عينو په ژبه

د ميوندونو د کيسو په ژبه

څه د توپك څه د جرگو په ژبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطن شپو ته مشالونه راوړو

د تيارو ښار ته څراغونه راوړو

زما کندهاره د زمرو وطنه

زما د سرکښو پښتنو وطنه

د اتلانو د کيسو وطنه

د ميدانونو خرڅښو وطنه

داسي مي نه غوښتې چي نن دي وينم

په تن زخمي په سره کفن دي وينم

ويرجينيا

2001- 5- 15

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به څه لیکې شاعره

هغه ستا د ابا مېنه تالا سوې

چې تندي کې دي سجدې ورته ساتلې

د ګلونو پر غونډۍ اورونه اوري

وږمه ځي تر ارغوانه پښه نیولې

په کوڅو کې یې ژوندۍ جنازې ګرځي

پر کورونو د بلا ساه ده ختلې

له باڼو تر ګرېوانه د اوښکو کور دی

له زلمو شونډو موسکا ده کوچېدلې

پر اوږو د اوښکو ووته له ښاره

د خندا جنازه ولاړه غم لړلې

اوس به څه لیکې شاعره راته وایه

راته وایه اوس به څه لیکې شاعره

اوس په ساندو کیسې وزي له کابله

چې کوڅې یې وې ښایستې په پېغلو حورو

سور سالو یې د لمبو رنګ دی اخیستی

چې په ښکلي وه باغونه د انګورو

پر انګړ یې د پاتا کمبلي ژاړي

پر تېر سوی دی ناورین د زورورو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان يې بلاګاني په خوبويني

افسانې د برېتورو، ږيرورو

د هر پلار کيسه د زوی په وينو سره ده

هره مور ده پرهارونه د ناصورو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

کله چي کوم وطن ته ورېي دا کور خرابي

اوس به څوك اوري آواز د پردېسانو

کوم ولات کي يې درمل ورته ليکلي

څوك به اوري فريادونه د زخميانو

څوك به غوږ نيسي نارو ته د بې پلارو

څوك به وژاړي سلګۍ د يتيمانو

څوك به بيرته لوپټه د خور پر سر کي

څوك به نيسي ګرېوانونه د غازيانو

د نښتر ونې جنډې سوې د قبرونو

لا رواني دي جوپې د شهيدانو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به څوك له قلندره سره ژاړي

اوس به څوك لېږي ميرا ته غزلونه

څوك به اوښكي تويوي پر ميناانو

څوك به ژاړي په كېږديو كي نكلونه

كوم حميد به خط و خال كاغذ ته يوسي

يادوي به د يارانو سفرونه

څوك به اوري كرامت د دروېشانو

څوك به ګوري پر رحمان باندي فالونه

څوك به نيسي د ديدن د ګودر لاري

له سالو سره به څوك ستايي اورونه

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

اوس به څوك د هندوكش سندري بولي

اوس به څوك ځي په اتڼ تر خيبرونو

اوس به څوك د ارغسان پر څپو ګرځي

څوك به ليكي قصيدې د كونړونو

څوك به بولي له آمو تر اباسينه

غر او سمه د سركښو اولسونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك به بولي له اټكه تر مالانه

قلاګاني د بابا له ميراثونو

اوس به څوك د جلالا ګودر ته يوسي

د هلمند څخه شرنګی د امېلونو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

اوس به څوك رايادوي تېري خبري

اوس به څوك راوينښوي زاړه نکلونه

اوس به څنګه نکلچي غاړه تازه کي

اوس به څه وايي زامنو ته پلرونه

اوس به څوك د پاني پت په توره وياړي

اوس به څوك تسليموي اصفهانونه

کوم شېرشاه توره ايستلې ځي سسرام ته

کوم اکبر به ورانوي د فرنګ خونه

کوم اورنګ به خپل زخمونه ويني ژاړې

کوم خوشال به لړزوي په کټ کي زړونه

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه پېغله به غرمه د میوند سره کي

د خپل یار له وینو څوك ایږدي خالونه

اوس به کومه تورپېکۍ پر بولدك ورسي

کومه چیغه به کي سره ساړه رګونه

کوم لاسونه به مرۍ د قاتل نیسي

څوك به اخلي د پېړیو کساتونه

څوك به راسي د ایوب سره ملګري

څوك به واچوي سندرو ته نومونه

څوك به تاو کړي د بابا بګړۍ له سره

څوك به وران کي د ازل کښلي خطونه

اوس به څه لیکې شاعره راته وایه

راته وایه اوس به څه لیکې شاعره

نن هغه ماشه د ورور پر لور کشېږي

چي یې غړي تښتول د رستمانو

نن هغه غشي د خور ټیکري پېیلي

چي یې زړونه سوري کول د سرکښانو

نن هغه اور د ابا پر مېنه بل دی

چي کرلې یې لمبې پر ګرګینانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن هغه توره د ورور په وينو سره ده

چي ځيرلې يې سينې د غليمانو

نن هغه سالار د بل په پښو کي پروت دی

ککرۍ چي يې وهلې د بتانو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

اوس له ګوتو د مطرب ويني را اوري

ژبي سل ځايه زخمي د شهبازونو

د سندرو سره غبرګي وايي ساندي

د رنځورو زګېروي ځي له ربابونو

اوس به چيري د زلميو ځوښي غورځي

ګنهکاره سوه سورنا ړغ د ډولونو

شپې ته راغله انګولا د بلاګانو

شمع کوچ سوه د محفل له ماښامونو

د تيارو اجاره دار محتسب راغی

خپروي زړې تيارې پر ځوانو زړونو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ګودر دي مېلمنې د بلا سترګي

نه شرنګی سته د پاوليو نه پايلو

پر نغمو پر زمزمو چپاو راغلی

زاغ نيولي ځالګۍ دي د بلبلو

نه محفل کي ګناهونه ياغي کېږي

نه خيام سته د توبو د ماتولو

سپين لاسونه د ساقي به چيري وېشي

پر يارانو شنې پيالې ډکي له مُلو

اوس به څوک رنګونه تش کي په قلم کي

څوک به ليکي دېوانونه د غزلو

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

اوس نسيم راوړي خبر د تورو ورځو

اوس له شپو سره راځي اغزن خوبونه

آفتونو پکښي کړي ځالګۍ دي

جنازو پکښي اوډلي دي کورونه

وايي نسته کجاوې شا ليلا ورو ورو

پېغلي نه نيسي د اوښو پېزوانونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يې نه راوړي رويبار د ديدن زېرى

له قاصده سره نسته سلامونه

په کوڅو کې يې زموږ پلونه بېګانه دي

له اغيار سره يې کړي پيوندونه

اوس به څه ليکې شاعره راته وايه

راته وايه اوس به څه ليکې شاعره

ويرجينيا

2000- 3- 6

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ثریا پر مزار

زما د ګران دوست او ځوان شاعر هادي هادي د هغه شعر په جواب کي لیکل سوی دی چي، ستا به باور نه راځي، تر عنوان لاندي یې په جلال آباد کي د ملکې ثریا پر مزار باندي لیکلی دی. ثریا ته یې ویلي دي چي ستا به باور نه راځي چي ستا په وطن کي پر ښځو څه تېرېږي.

واه زوروره څه په لوړ آواز سندري وایې

ستا په سندرو کي بړغونه د پېرۍ اورمه

لکه له منځه د وحشي او توپاني سمندر

زه ستا آواز د بې وزلانو له بېړۍ اورمه

د غرونو منځ کي له درو له ګړنګونو څخه

یوه خوږه یوه اشنا غوندي شپېلۍ اورمه

ځومره زړه ور یې چي لا نوم د ملالۍ یادوې

د ثریا د قبر سر ته یې لنډۍ یادوې

لا دي د زړه خواله راوړې د نازو لوېو ته

لا په دښتونو کي سندري د کوچۍ یادوې

لا دي ژوندۍ ده په سینه کي سوځېدلې مینه

لا ماښامونه لا اورونه د کیږدۍ یادوې

لا دي خوبونو ته راوزي خپلي دنګي نجوني

لا د ګودر سره پاولي او غاړګۍ یادوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دي هغه ښکلي پېغلوټي بې پاوليو ګرځي

اوس بې پوړني ببر سر بې غاړګيو ګرځي

اوس يې سندري په دښتونو کي شپې نه ويښوي

چي د شيطان محتسب سترګي پر کيږديو ګرځي

هغه ښايستې د غزلونو د شعرونو سترګي

له اوښکو سرې دي شوړېدلي په زاريو ګرځي

اوس د دېوانو د شامته ښکلا وتورېده

د تراباں په کور کي پوځ د شاپېريو ګرځي

اوس يې په مېنه کي د توري بلا مور لنګه ده

په پېښور کي په کوڅو کي د پرديو ګرځي

هغه ښايستې په تورلېنګيو کي پلو ګرځوي

د ګيدړانو کره لوښي د زمريو ګرځي

د ثريا د خويندو ميندو هديره ورکه ده

د ښکليو لوښو يې کلا ورکه دېره ورکه ده

اوس د زلخوږي ابوجهل د لښکر له جوره

په ماښامونو کي لمبه ورکه خېمه ورکه ده

څوك د تورونو څوك سنګسار دپاره جوړي نجوني

پر سورکۍ شونډو يې د ژوند بله کيسه ورکه ده

اوس نه په ورا نه په اتڼ نه په مېله راوزي

د ژوند له خوني يې رڼا ورکه ډېوه ورکه ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې تورتم کې به له چا سره غمونه ژاړو

اوس به د کومو ځوانیمرګو لحدونه ژاړو

د کومو کونډو کومو بورو کومو وراړو سره

د چا کیسې او د چا شناختې او قبرونه ژاړو

د بې عزته محتسب دُره عزت لوټوي

د چا پر ولې پر ناموس باندې زخمونه ژاړو

دلته به څرنګه ګرېوان د زورورو نیسو

دلته به چا سره دردونه پرهارونه ژاړو

دلته مو وژني د نصیب د فیصلو په حکم

وایه له چا سره دا تور عدالتونه ژاړو

اوس د بابا پر مېنه حکم د اورنګ چلېږي

د پردۍ توري به موږ چا ته ګوزارونه ژاړو

ګوره هادي ! نن دې پر خویندو بدې شپې راغلې

د رڼاګانو په وطن کې دې تیارې راغلې

چې پایزېبونو به یې شپې له کېږدۍ وشړلې

هغو پاپیو ته نن توري زولنې راغلې

خو که دا مېنه په ریشتیا د ملالۍ مېنه وه

که د نازو او ثریا او تورپېکۍ مېنه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په ریشتیا زمریو میندو وه راوړي بچي

که په ریشتیا د عُقابانو د ځالې مېنه وه

که د شهید مین په وینو چا خالونه وهل

که د ګولیو په باران کي د سیالۍ مېنه وه

که چا دې خاوري ته د وینو اوبه خور ورکړې

که د اتڼ که د پایکوب که د مستۍ مېنه وه

نو پر دې خاوري داسي ډېري زلزلې راغلي

دې هسکو څوکو داسي ډېري حادثې لیدلي

دلته مرګي موږ ته په زر ځله خېمې وهلي

د بورو ورارو سترګو ډېري جنازې لیدلي

موږ له ازله د توپان په شپه کي وزېږېدو

دې سمندر کي له پېړیو مو څپې سهلي

که ژوند باقي و یوه ورځ به مو بیا ښکلي نجوني

لکه د غرونو غرڅه مستي نازولي نجوني

بیا پر واټونو ډلي ډلي په سپلونو ګرځي

زما د کابل هغه ښایستې هغه ښاغلي نجوني

بیا به په سرو منګلو زړونه له کوګله کاږي

په شرنګا شرنګ به را رواني وي منلي نجوني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به د سترګو تر کونجو ګوري مکار محتسب

موږ به پر نویو پاڼو نوي حسابونه لیکو

بیا به د شعر پر مځکه وکرو د مینې فصل

بیا به له سره نوي نوي غزلونه لیکو

واشنګټن ډي سي

2001- 9- 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زنداني خيالونه

ما ويل زه به يوه ورځ د پسرلي په سهار

چي مځکه سره او شنه وي

چي د بوډۍ په ټال کي

غزلي ناڅي ترې نظمونه اوري

چي د توبې پر لغوړنو پر چاودلو شونډو

کيسه د ذکر زنګ وهلې نيمه خوا ويده وي

چي له محرابه سجدې نه راپاڅي

چي شيخ د خپل قهر په اور کي سوځېدلی پروت وي

چي په جومات کي غځېدلی پروت وي

چي د نې او د خُمار سندري

چي د جانان او د نګار سندري

چي د ساقي او د خپل يار سندري

هم له شبنمه هم له ګلو خوځي

هم له نرګس هم له سنبلو خوځي

هم له اوربل هم له کاکلو خوځي

له شونډو خوځي له سرو مُلو خوځي

زه به راځم پر هغه لاره باندي

چي تا په مياشتو په کلو څارله

چي تا په اوښکو په سلګو څارله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا په دعا، تا په تعویذ، تا په فالو څارله

زه به راځم لکه د تلليو مرغکيو په څېر

د پسرلي د توتکيو په څېر

او راسره به وي د سپينو مرغلرو امېل

زه به کيسې د پردېسيو کوم

ته به کيسې د شوګيريو کوې

زه به له ګل څخه فراق ژاړمه

ته به نکلونه د اغزيو کوې

زه به دي غېږ کي نيسم

ته به مي غېږ کي نيسې

يوه شېبه به شوګيرونه هېر کو

د خيال په تاو به خزانونه هېر کو

اوښکي به هيري کو غمونه هېر کو

خو ګراني کله د زمان بندېوان

دا د عمرونو د زندان بندېوان

په زړه ظالم د شنه آسمان بندېوان

زما د خيالونو زولنې ماتوي

يا ستا د اوښکو سلسلې ماتوي

دا په زړه سخته زمانه

کله ارام ته پرېږدي

د پردېسۍ سترې خپاره خيالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې وسۍ زخمي زخمي خوبونه

واشنګټن ډي سي

2000- 11- 1

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر سودا

ځوانيمرګي ځوانۍ څه وې
سپيني ږيري مخ دي تور سه
مرور يم تر قيامته
څه کلونه دي په ګور سه

ځوانۍ چيري مي کړې ورکه
چېري ولاړې ښکلي نجوني
چي ښايستې ونې يې ګورم
رانه ليري ځغلي نجوني

خدايه نغده مي راوړې
پور ته نه يمه راغلی
پنځه ورځې مي زلمی که
ژوند مي ټوله دربخښلی

چي بيا زه يم بيا ياران وي
بيا سبزه وي بيا ګلان وي
چي بيا مى وي بيا مستان وي
د شرابو رود روان وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیالې سر پر سر تشېږي

ښاخلې بند پر بند ماتېږي

وینې وار په وار تودېږي

مرګ او ژوند دواړه هېرېږي

شرنګ سي پورته له ربابه

لمبه خېژي له دریابه

شیخ توبه کي له کتابه

پرهېز مات کي له شرابه

له پایکوبه د یارانو

شپې سي اور د رقیبانو

ورځې توري د شیخانو

ژوند اغزي د غلیمانو

یو د بل په سترګو پایو

زه او یار مي لاس تر غاړه

یو په بل کي سره ورك سو

په یوه هستي کي دواړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډکېږي هم تشېږي

صُراحي او ګيلاسونه

له مستانو نسکورېږي

د سرو مُلو ډك جامونه

نازولې ساقي ګرځي

لکه ځانګه د ګلونو

چي خمار مستي يې ځاځي

له سرو سترګو له لاسونو

خدايه سپين وېښته مي واخله

په رګو مي کړه اورونه

بس پنځه شپې مي زلمی که

نور در ونيسه کلونه

چي توبه وي له حسابه

زه هغسي مستي غواړم

چي پرهېز وي له کتابه

زه هغه کلونه ژاړم

او که دا نه وي خالقه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې اجله درنه ولاړم

ويرجينيا

2002- 3- 13

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ته ښایسته یې

ته لکه ستوری د آسمان پر لمن

ته لکه سترګه د سبا ښایسته یې
په آسمانونو کي تنها ښایسته یې
ته له ازله له پخوا ښایسته یې
ته د مستۍ ته د خمار په شپه کي
لکه ساقي لکه مینا ښایسته یې
لکه پانوس لکه رڼا ښایسته یې
لکه جلوه لکه برېښنا ښایسته یې
لکه شبنم لکه ځلا ښایسته یې
لکه ګلاب لکه بورا ښایسته یې
لکه لاله په سره لمن کي د بېديا ښایسته یې
لکه غزل ټوله ښکلا ټوله له رنګه ډکه
لکه خیالونه د شاعر د هري خوا ښایسته یې

ته لکه زېری پر غوږو لکه نغمه پرېوزي
له سر تر نوکه په رګو لکه لمبه کښېوزي

ته لکه شمع لګېدل دي زده دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توره شپه کي بلېدل دي زده دي

هم سوځېدل هم سوځول دي زده دي

هم ويلول هم ويلېدل دي زده دي

لکه خيالونه الوتل دي زده دي

پردي خوبونه تښتول دي زده دي

زخمي کول کرارول دي زده دي

ته لکه زرکه له اوازه دي درېِ ښکلي دي

لکه شپېلۍ له مازيګره دي رمېِ ښکلي دي

لکه لمبه له ماښامونو دي خېمېِ ښکلي دي

ته لکه وړانګه له سهاره دي څپېِ ښکلي دي

ته لکه ګل د نسترن له تا بهار ښايسته دی

لکه نسيم لکه وږمه له تا سهار ښايسته دی

لکه سپوږمۍ له تا آسمان له تا سينګار ښايسته دی

ستا له تصويره مي خوبونه ښکلي

په تصور مي دي خيالونه ښکلي

ستا له خيالونو مي نظمونه ښکلي

ستا په هستۍ مي غزلونه ښکلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو ژوندی یم ستا په نوم به غزلونه لیکم

تر څو چي یونم څو چي وینم څو چي سترګي لرم

ستا پر تصویر باندي به اوښکي کرم

ستا په خوبونو به مي شپې بیدوم

ویرجینیا

2002- 3- 13

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چي شپېلۍ بنده نه کې

شپانه دا خپله شپېلۍ بنده نه کې

په دې دښتونو کي يوازي دا يوه نغمه ده

چي موږ ته نکل د پېړيو کوي

يوازي دغه آواز

اوس د آشنا دښتونو

د جگو جگو غرونو

زموږ د زهيرو چپاو سويو زړونو

د نړېدلو سوځېدلو خونو

د ځوانيمرگو نيمه خوا قبرونو

يوه يوه کيسه پر ژبه لري

يوازي دغه آواز

يوازي ستا د شپېلۍ مستي او آزادي نغمې

د لوړو غرونو تر کمرونو ورځي

لا د کېږدۍ تر ماښامونو ورځي

لا په دښتو کي تر اورونو ورځي

لا د زلميو مينانو تر نکلونو ورځي

لا د بلبلو چڼچڼيو تر غوږونو ورځي

شپانه دا خپله شپېلۍ بنده نه کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي زمونږ د غرونو دا ژور لاښونه

چي دا زخمي ګلونه

دا سوځېدلي او دا وچ ډاګونه

دا نيمه خوا ښارونه

دا بې صاحبه دا ميرات کورونه

دا د مرګي له ساندو ډکه خونه

يوازي تا پېژني

شپانه کلونه کېږي

چي وطن رنګ د لېونتوب اخيستی

جنګونو باج له سړيتوب اخيستی

د څو قاتلو لوټمارانو ټولۍ

د بېګانه داړه مارانو غدۍ

زلمي سرونه په لمنو کي وړي

شهيدي ويني په څُمونو کي وړي

پردي تېغونه په لاسونو کي وړي

نه يې په شپو کي دي کيسې پرې ايښې

نه په کيږديو کي لمبې پرې ايښې

نه يې پر شوندو ترانې پرې ايښې

نه يې شهباز نه يې نغمې پرې ايښې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې لنډۍ نه يې نارې پرې اېښې

ستا له شپېلۍ به هم نغمې تللې وي

ستا له نغمو به هم کیسې تللې وي

ستا له کيسو به هم مزې تللې وي

تا ته به هم سورونه نه وي پاته

ستا له آوازه به هم ويني څاڅي

ستا له سورونو به هم اوښکي پاڅي

تا ته به کله دونه شور پاته وي

ستا د نغمې به کله زور پاته وي

ستا به د وينو چېرته اور پاته وي

خو ته دا خپله شپېلۍ بنده نه کې

ستا له شپېلۍ واری سم

که سبا بيا مو ګودرونه خپل سول

که مو دا غرونه دا دښتونه خپل سول

که په کيږديو کي اورونه بل سول

او بيا کيسې د اورېدلو سولې

بيا غاړګۍ د اچولو سولې

پېغلي ګودر ته د ورتللو سولې

د پايزېبونو د پاوليو شرنګولو سولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محتسب سترګي ړندې سوې د ایستلو سولې

بیا به دا ستا په نغمو

بیا به دا ستا په آواز

دا ستا په مسته شپېلۍ

راویښوو د نیمو شپو نکلونه

له شپو به باسو شیطاني خوبونه

بیا به را یاد کو پخواني وختونه

بیا به رباب ته شهبازونه راسي

بیا به نغمو لره سورونه راسي

بیا به نڅا ته پایزېبونه راسي

بیا به محفل ته پانوسونه راسي

د ساقي لاس کي به جامونه راسي

ته به شپېلۍ ږغوې

یاغي سندري به دي

راپاڅوي د رګو وچي ویني

ژوندۍ کوي به زمولېدلي میني

راویښوي به ډکي ډکي پیني

دا شپېلۍ بنده نه کې

په دې شپېلۍ کي زه خوبونه وینم

پکښې خیالونه وینم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته خوبونه زنگوم پکښي ټالونه وینم

د نن اورونه هېرومه جنتونه وینم

شپانه دا خپله شپېلۍ بنده نه کې

ستا له شپېلۍ واری سم

په دې دښتونو کې یوازي دا یوه نغمه ده

چي مورې ته نکل د پېرېو کوي

ويرجينيا

2000- 8- 12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سترګي

پرون مي نابېره

پس له کلونو ستا پر لور سترګي در واوښتلې

او د عینکو شاته

یوازي ستا د خمارو سترګو کیسه پاته وه

نه له اوبو ډکي وې

نه له رمزو ډکي وې

نه له نخرو ډکي وې

پکښې مي ونه لیدل

د مستۍ ډك سره او نري رګونه

نه یې رازونه ویل

نه یې نازونه کول

نه یې باڼو پیره دار

نه یې وارونه کول

نه یې ښکارونه کول

نه یې د زړونو امېلونه پېیل

نه یې وعدې د سباوون کولې

نه یې کیسې د مستو شپو نه د پرون کولې

نه یې کاږه باڼو حملې د شواخون کولې

نه یې پر زړونو اورول نوي تازه وارونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې له سترګو تښتوله د ځوانۍ خوبونه

پرون مې نابېره

پس له کلونو ستا پر لور سترګې در واوښتلې

درته کتل مې چې ښايستې سترګې دي

هغه د ميو پيمانې سترګې دي

له بېخوبيه له مستيه تکې سرې سترګې دي

د غزلونو افسانې سترګې دي

بنګ د ځوانۍ او د مستۍ نه لري

ناز د ورېښميني ناوکۍ نه لري

تمه د عمر د نازونو د پېرۍ نه لري

او له کونجونو څخه غلي غلي

د بلې مستې غنم رنګې نازولې نجلۍ

ها د ښکلا له تارو پوه ده د اودلې نجلۍ

د غټو بورو سترګو

په ننداره پسې کرار کرار مزلونه وهي

چې خپلې شپې به يې يادېږي کنه

چې خاطرې به يې پارېږي کنه

پټې له ځان سره ژړېږي کنه

ويرجينيا

2001- 3- 17

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوگند

چي لا تر څو مي په رباب کي وي تارونه پاته

چي مي له گوتو کي شهباز خوځېږي

چي يې لا توان د شرنگولو لرم

چي لا نغمه د ږغولو لرم

او لا يو څوك د اورېدلو لرم

او لا مي پاته په نغمه کي وي وروستي سورونه

زه به رباب وهمه

ما د جنون په سر قسم کړی دی

چي د تيارو او د سکوت شيطانان

زما پرتندي سجدې ليدلای نه سي

ياغي نارې مي اېلولای نه سي

شمع په لاس به په کوڅو کي د رندانو گرځم

زه به پر کور د ميخوارانو گرځم

تشي پيالې کړنگوم

ځانته زاهد قهروم

اور د دوږخ پاروم

کور د ريا سوځوم

که نشې نه وي که مستي که شرابونه نه وي

که ساقي نه وي سپين لاسونه ډك جامونه نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که محفل نه وي که نڅا که پایکوبونه نه وي

یوه خماره چیغه

څه لېونۍ او څه هوښیاره چیغه

پورته کومه دا سکوت ماتوم

ژوندي قبرونه په نارو ویښوم

ځانته زاهد قهروم

ما د جنون په سر قسم کړی دی

چي د تیارو او د سکوت شیطانان

زما پر تندي سجدې لیدلای نه سي

یاغي نارې مي اېلولای نه سي

که د تور مخو زاهدانو پیره دارو سترګو

د محتسب او د قاضي دواړو مکارو سترګو

له خلوتونو راوتلو ریاکارو سترګو

په رنجو تورو دوو غدارو سترګو

له ګودرونو د پېغلانو نارې وشړلې

له پایزېبونو یې د شرنګ سلسلې وشلولې

له ماشامونو یې کیسې او لمبې وایستلې

زه به ګودر ګودر نارې وهمه

زه به پر سپینو مرغلینو اوړو

زه به پر سپینو پر ورېښمینو لېچو

د منګوټیو سلسلې یادوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به کيږدۍ ته ورځم

زه به لمبې بلوم

زه به کيسې وېښوم

ځانته زاهده قهروم

ما د جنون په سر قسم کړی دی

چي د تيارو او د سکوت شيطانان

زما پر تندي سجدې ليدلای نه سي

ياغي نارې مي اېلولای نه سي

لا خو ژوندی يم لا له ستوني مي اواز راوزي

لا خو بينا يم سپين له توره بېلولای سمه

لا يوه چيغه مستانه پورته کولای سمه

لا خو په وينو کي بخري ګډولای سمه

لا خو غزلې مستولای سمه

لا مي سينه کي ناويلې ترانې پاته دي

لا ترانو کي څو زخمي زخمې نارې پاته دي

لا له شهبازه سره غبرګي زمزمې پاته دي

لا په رګونو کي څو څاڅکي ويني سرې پاته دي

لا مي په وينو کي څو ګرمي هنګامې پاته دي

لا به زه اوس د انځورګرو په کوڅو ګرځمه

په قلاګانو په حجرو ګرځمه

د ورکي مېني به پوښتني کوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوډي کتني کوم

څو سوځېدلي تصويرونه ايږدم

څو پاڼي پاڼي کتابونه اوډم

پکښي څېره د خپل جانان لټوم

له ماتو ماتو قلمونو سره

پر سپين کاغذ باندي خطونه ليکم

يوه څېره رسموم

بيا له تصويره سره لوبي کوم

ترېنه انځور جوړوم

د زړه په وينو يې خالونه ايږدم

ځانته زاهد قهروم

ما د جنون په سر قسم کړی دی

چي د تيارو او د سکوت شيطانان

زما پر تندي سجدې ليدلای نه سي

ياغي نارې مي اېلولای نه سي

ويرجينيا

2000- 12- 19

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## او لا اورونه بل دي

د پوهاند عبدالشکور رشاد د شعر په اقتفاء

ها چي په وینو یې لړلي دي د غرو لاښونه

چي یې لمن کي رغړېدلي دي مغرور سرونه

چي یې د توري له هیبته لړزېدل په کټ کي

د غلیمانو د تورزنو جنګیالیو زړونه

چي یې کیسو ته له باګرامه تر سسرامه پوري

یو په یو وښودل د شېر او د سکندر نومونه )1(

چي یې راپاځي افسانې د اصفهان له کیسو

چي یې له ډاره رپېدله قزلباش پوځونه )2(

چي پاني پت ته یې ور وښودی ایمان د توري

چي د تاریخ سینې ته ولاړل دُراني تېغونه

چي له پامیره تر سپین غره تر خیبره پوري

پکښې ایري سول یرغلګر او د دښمن هډونه

چي له سکندره له چنګېزه یې کړې لاري ورکي

چي د فرنګ پر زړه یې کښېښودله تور داغونه

چي سره تبۍ یې کړله مځکه د فرنګ او تزار

چي یې په غاړه کي ور وتومبل د اور لاړونه

چي سرو لښکرو پکښې زر ځله ټکري وکړې

چي خپل تاریخ ته یې سوغات یووړله ژړ مخونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يې د کونډو، بورو، ورارو حسابونه ورك دي

چي يې د شمېر په ژبه نه راځي ناصور زخمونه

چي يې تر ننه تر سبا او تر پېړيو پوري

په ښار او کليو کي ور وکړله سره اورونه

چي دې انګړ ته د کوربه بې اجازته راځي

کوم بختور به وړي تر کوره مات ژوندي بندونه

دلته سينې دي له ازله له پولادو جوړي

دلته له ټانك سره ډغري وهي كلك سوكونه

او يوه ورځ د دې وطن په کړلېچو کي مات سول

د تزارانو په ګناه ككړ خيرن لاسونه

او يوه ورځ سو د پېړيو طلسم دړي وړي

او يوه ورځ له هسکه راغلل د بري ږغونه

ويل يې سپك سول د درانه پښتون انګړ ته چي تلل

د کبرجنو داړه مارو ناروا ټانکونه

پر مځکه جوړي زلزلې سوې د اتڼ له زوره

ميدان ته ووتل د تېرو افسانو ډولونه

ولاړې د غرو شاته نيهام سو تښتېدلى ښامار

په ميدانونو کي يې پرېښودله مات غاښونه

د کنډوالو ناره يې واورېدل په عرش کي خالق

د کونډې ناوي په نيکريزو سرو لاسو عرضونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرونو سيندونو يوه بل ته پيغامونه لېږل

د شهيدانو له جنډېو اورېدل رنګونه

چا ويل بيا ګوندي سمسور سي سوځېدلي کلي

ګوندي دا شاړي مځکي بيا وسپړي سره ګلونه

بيا له سورنا او له ربابه نغمې پورته سولې

نڅا ته ووتل د نجونو او زلمو فوجونه

مبارکۍ وې يو د بل غوږ کي ويله خلکو

نن که سبا وي پردي کيږي بېګانه کمپونه

نور به ستنېږي ستړي کډي له پرديو خاورو

نور به خالي وي د پردي ملکو پردي کورونه

نور به شملې د شمله ورو چا ته ټيټې نه وي

زموږ د زلمو غيرت به نه څټي پردي دېګونه

خپل به قاضي خپل به ملك خپل به وي مشر د قام

بيا به پر خپلو مځکو يون کوي آزاد قومونه

بيا به د زرکو په ګامونو وي رواني نجوني

بيا به سينګار وي په کوچيانو زرغونه دښتونه

بيا به د تالندي د زوره غر او سمه رېږدي

بيا به غورېږي د ترنك او ارغسان موجونه )3(

خو يو ناڅاپه سره ورغلې خوني لښکري

بل سول په ښار او په بانډو کي د نفرت اورونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چي چا ته د پېړيو دښمني وي پاته

لکه بدۍ ته پاڅېدلي وي غليم تربرونه

لمبې له کليو له ښارونو له کوڅو پورته سوې

سره سول د ورور او خور په وينو د غازي لاسونه

د خور پوړنی د ابا شمله يې ولوټله

له زړونو ووتل د ميني او غيرت نومونه

يا زموږ بچي په کور کي تل دغه ناخوالي کوي

يا په پردي کور کي بدل سول زموږ ياغي مېړونه

چي په نومونو يې سندري جوړولې نجونو

هغو غازيانو يې پر کليو اورول مرګونه

او لا تر ننه دا بدمرغه هنګامه جوړه ده

او لا تر ننه کيندل کيږي د زلمو قبرونه

لا د ابۍ په غېږ کي نه دی کرار سوی ماشوم

لا هره شپه په خوب کي ويني د قاتل برېتونه

لا يوه بل ته سره اړوي اوتري سترګي

لا يې په کور کي مېلمانه دي د مرګي يادونه

چا ورته کړي دي کيسې د هغي بري کوڅې

چي د ژوندي انسان په سر کي چا وهل مېخونه

چا ماشومانو ته ويلي دي چي تل به ويني

د افغانانو په ازل کي نوشته جنګونه

دې افسانو د کور او کلي ارامي وړې ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ماشومانو يې غلا کړي دي خواږه خوبونه

هسي نه بيا پردي راغلي وي د سيوري په څېر

له يوه بله مرور کړي د قومونو زړونه

هسي نه بيا يو څو تور مخي په جرګو ورګډ سي

هسي نه يو له بله وجنګوي لوی ښارونه

هسي نه سپکه سي شمله د باتورانو د کور

هسي نه بيا په وير اخته سي دا زوی مړې خونه

بيا خو به نه وي د قلا په مخ کي غل پيره دار

شريك خو نه دي له رقيب سره د زړه رازونه

نيکه ويل چي خپل مو خپل دي بېګانه مغول دي

هېر خو به نه وي د بابا او د نيکه پندونه

بيا په لوی لاس خو به بلا چا رابللې نه وي

هېر خو به نه وي پروني او پخواني نکلونه

چي غمازان مو مرکې کوي د ورونړو تر منځ

تر هغې ورځي به د وينو وي روان سيندونه

لا به را اوري د آسمانه څخه سره اورونه

لا به غړومبېږي ډك له اوره دوړخي توپونه

ويرجينيا

)1(په هند کي د پښتنو دوو مشهورو شاهانو، شېرشاه سوري او سکندر لودي، ته اشاره ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)2(قزلباش )سور سري، يا د سرو خوليو خاوندان( د ایران د صفوي شاهانو پوځيان وه، چي هم يې په کندهار کي د میرویس نیکه له لاسه ماتي وخوړې، او هم يې په اصفهان کي د شاه محمود هوتك د انتقام مزه وڅکله.

)3(ترنك او ارغسان د کندهار دوه لوی سیندونه دي، چي پر غاړه ې ډېر لوی غلجي او دراني قبايل آباد دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چي رانه سې پسرليه

د خوشحال خان ختټك د بهاريه قصيدې په پيروي

هی افسوس چي بيا به رانه سي بهار

نه ځولۍ ځولۍ ګلونه نه ګلزار

نه ښايسته به سي ټالونه په پېغلانو

نه ولاړ به وي زلمي كتار كتار

نه روان به وي همزولي لاس تر غاړه

نه نوروز نه ګل سرخ نه شالمار

نه به ښكلي وي دښتونه په زلميو

نه به پورته له باغونو وي چغار

نه به بيا خوشال ايستلې توره راسي

نه به باز غوندي منګل سر كي په ښكار

نه به سره تبۍ كي مځكه د مغولو

نه لښكر به د غليم كي تار په تار

نه مرغان به د رحمان پر غزل ژاړي

نه بې ګوري ځوك فالونه پر ګفتار

نه به ځوك د قناعت په اطلس وياړي

نه به ګرځي په خرقه كي شهريار

نه به كړنګ و شنو پيالو ته حميد وركي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به شونډي پکښې ويني د خپل يار

نه به اوښکي تويوي پر مسافرو

نه به فرش کي په لېمو دلبر ته لار

مهاجري سولې ورځي شبستان ته

د تورتم لښکر نيولی د لمر ښار

نه د زرکو په نارو دي غرونه ښکلي

نه بازان خوني منګول تېره منقار

نه نارې دي د چڼچڼو د قمريو

نه شاهين پسي وتلی دی په ښکار

په ګزمو د شيطانانو سترګي ګرځي

منګي نسته پر ګودر باندي کتار

پاولي نه کوي شرنګی پر ګودرونو

پېغلي نه لري خالونه د سينګار

نه غوټۍ دي د سوما له اوبو مستي

نه لښکري د بورا ګرځي خمار

نه ورمې ګرځي په شپو کي د ګلونو

نه شبنم له غونچو الوزي سهار

هره خوا ګرځي لښکر د صيادانو

اوس بلبل ترانې نه وايي په جار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نارنجو گل به څوك گرېوان ته یوسي

محتسب چي وي وهلی ننگرهار

څوك به ولیکي خاټول ته غزلونه

د مرگي لښکر چي پروت وي پر مزار

گناه کاري سوې جنډې د زیارتونو

نه سخي سته نه لمن د لاله زار

جنازې دي چي را اوري پر کورونو

مستي نه لري کوڅې د کندهار

ستا په نوم چي ورانوي د وطن څلي

ربه ته یې په لعنت که گرفتار

د احمد پر مېنه مه وای زېږېدلی

مه یې مور د دې وطن وای مه یې پلار

نن یې اور د جنازو پر وطن بل کړ

هم لښکرو د غلام هم د بادار

خدایه یو زخم خو نه دی چي به جوړ سي

کال په کار دي پرهارونه وار په وار

چي به ویښي په نارو وې د نکلونو

له هغو کیږدیو پورته دی کوکار

چي دښتونه یې وه ښکلي په اورونو

له هغو خېمو کچکول باسي مالدار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شپانه سته نه کیږدی نه رمې ګرځي

نه په دښت کې د لېوانو پروت دی ډار

خدایه ورکې سوې شملې د شملورو

نه سرونه سول راپاته نه دستار

له قاصده سره نسته پیغامونه

بدشګون دی سترګې سرې دي د رویبار

رباتونه نابلده راته ښکاري

قافله پر کومه ځي کرار کرار

توره شپه ده کنډوونه کږلېچونه

یا به ړوند وي یا جاهل کاروان سالار

له خزانه تر خزان پوري ژوندون دی

نه یوه لحظه سکون سته نه قرار

هره ورځ یې له دوږخ څخه راوزي

پر تندي د هري شپې لیکلی نار

هر ساعت یې قیامتې اورونه اوري

زخمي کډې باروي زړونه افګار

کور او کلي د سکروټو کروندې دي

ورور له وروره زوی له پلار څخه بېزار

لا ټولې د لېوني محتسب ګرځي

نه پر سد یې دی پرې ایښی نه هوښیار

د مطرب له شهبازونو اوښکي اوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په سور کي يې رباب دی نه سيتار

نه په غلا نه په ښکاره يې ديدن کېږي

د جانان کوڅې نيولي دي اغيار

نه ساقي ډکي پيالې راوړي محفل ته

نه ياران دي په مستيو کي سرشار

نه د گل په نصيب سرې شونډې د پېغلو

نه بورا سينه څيرلې ده په خار

څه په مخه دي گلونه پسرليه

درته نور به وي ملکونه انتظار

دا يتيمي ځنې نه غورځي اتڼ ته

دا زوی مري تا ته نه دي د روزگار

ته د کونډو اوښکو نه يې د پوښتني

د زهيرو زړونو مه اخله آزار

جهاني د خوشحال خان له برکته

د سکروټو په قلم ليکي اشعار

ويرجينيا

2001- 1- 3

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بنگلو نجلۍ )بیلي جویل)

دا په لوړو بنګلو کي د ښار اوسي

زما په شان غریب یې هیڅ نه دی لیدلی

نه یې مور کله کیسه ده ورته کړې

نه یې خیال ته داسي څوك دی ورغلی

دا نجلۍ ده نازولې د قصرونو

ورته نسته لار د پلونو د خوارانو

نن یې زړه ته ده زما مینه ورغلې

نن د بخت په ازمېینه ځم یارانو

نن یې کړې فیصله د ژوندانه ده

نن سپاري چا ته جلو د خپلي میني

نن به زړه د چا له زړه سره پیوند کړي

تودوي د چا په وینه خپلي میني

نن یې زړه غواړي چي ځان لره پیدا کړي

یو غښتلی په زړه کلك له غریبانو

خو له ما څخه اختیار دی میني وړی

زه له دغي ډلي نه یمه یارانو

دا په لوړو بنګلو کي د ښار اوسي

ما د دې نړۍ هرګز نه ده لیدلې

زه د دې دنیا ته نه یم ورغلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما لا خپله طالع نه ده ازمېيلي

سترې سوې ده په سپينو بنگلو کي

زړه يې شين دی له هغه ژوندونه ژاړي

د غټانو له زامنو ده بېزاره

نن يې زړه د غريبانو سره غواړي

نن که نه سمه ور وړلای مرغلري

يوه ورځ به مي راخيژي د بخت ستوری

پرې به جوړ کمه باران د سرو او سپينو

په ټولی کي د سيالانو به مي گوري

هغه ورځ به دا زما په مينه وياړي

راسره به وي پر ځنگ باندي روانه

په ورو ورو به اخلي ښکلي قدمونه

لکه زرکه لکه سروَ خرامانه

نن يې زړه غواړي چي ځان لره پيدا کړي

يو غښتلی په زړه کلك له غريبانو

خو له ما څخه اختيار دی ميني وړی

زه له دغي ډلي نه يمه يارانو

نن يې زړه ته زما مينه ورغلې

ما هم زړه په بنگلو کي دی بايللی

ور روان يمه د بخت په ازمېينه

نازولي ته مي واك دی ورسپارلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرجینیا

1999- 5- 31

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کسې او نکلونه

## موږك شېر

د لوی ښار څخه دباندي يو دره وه

جوړه کړې يوه شيخ پکښي دېره وه

پر سجدو به خدای ته پروت و په خواستونو

ټولي شپې يې تېرولې په نفلونو

که څو د ښار پر خلکو باندي ګران و

دی له خلکو راګوښه په غم د ځان و

دوولس مياشتي به يې تل روژې نيولې

يوه ورځ يې چا ډوډۍ نه وه ليدلې

يا په ذکر يا په فکر به مشغول و

پير پر هر چا باندي ګران ورته مقبول و

نه يې ورلې شکرانې نه خيراتونه

نه يې چا ته ورليکله تعويذونه

د دعا دپاره خلك چي ورتلله

پير به يو ګړی حضور ته وربلله

نور نه شيخ د دنيا کار لره وزګار و

نه له ښو نه يې له بدو سره کار و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یوه موږك په حجره کي

شل او سل ځله آزار کړ په سجده کي

چي به شیخ کله ورتیښ سو و سجدې ته

د موږك لکۍ به ورغله و خولې ته

شیخ کرار ورځخه وکړله پوښتنه

ما پر څه آزاروې په بخت پمنه

موږك وویله شیخه ستا قربان سم

د مرګي مخته دي سپر بلاګردان سم

د پیشو له لاسه ډېر یم کړېدلی

شوم نهر یم وږی تږی ژړ زبېښلی

د ظالمو پیشوګانو له ناتاره

یو ګړی وتلای نه سمه له غاره

ته دُعا وکه چي زه غټه پیشو سم

نور به هر ګړی بېغمه له حملو سم

شیخ دُعا وکړه موږك توره پیشو سوه

هغه دم خدای ته د شکر په سجدو سوه

سمدستي یې کړه حمله پر موږکانو

مرګ یې ګډ کړ په خپل کور کي په خپلوانو

نه یې مخ وکوت د خپلو ګاونډیانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د وروڼو، د زامنو، اکاګانو

خپله مور او پلار یې څیري په منګول کړل

مېلمانه یې خویندي وروڼه د اجل کړل

راوتلای موږکان نه سوای له غاره

سپوږ په کور کي هیچا نه واهه له ډاره

یو څو ورځي یې پر خپل کلي مېله وه

د پیشو برېتونه غوږ منګول یې سره وه

بیا خلوت ته سو دننه ویل پیره

ستا قربان سم د خوارانو دستګیره

د ښار سپیو مي تریخ کړی خوږ ژوندون دی

ښکار له بېري نه سم کړای وچ مي لړمون دی

راته غاپي په کورو کي پر بامونو

ګرځېدای نه سم پر جګو دېوالونو

په دُعا دي یو لوی سپی راڅخه جوړ که

په دي سپیو په کوتریانو مي زړه سوړ که

شیخ پر چوف کړه پیشو ځای پر ځای خېل سو

هغه دم د پیشوګانو په تکل سو

په ځغستا به یې ایستې له کلي کوره

نه یې خړه پیشو پرېښوده نه توره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پیشو به پیدا نه سوه د کورونو

واړه سپي به یې داړله په غاښونو

لاروي یې ډاروله په ګواښونو

ماشومان یې ځغلول تر خپلو خونو

و هر چا ته یې ښودلې خپلي داړې

څوک ترې خلاص نه وه په ناستي په ولاړې

خو څو ورځې وروسته بیا ولاړی حجرې ته

شیخ یې نه خوشي کاوه خپلي سجدې ته

ویل شیخه زه په کومه خوله ګویان سم

ستا تر پښو دي صدقه سمه قربان سم

په عذاب کړم په کوڅو کي ماشومانو

کاڼي وینم په لاسو کي د لویانو

نه کورو کي مي پرېږدي ډلي د سپیانو

نه په ښار کي پر دوکان د قصابانو

دا یو زه په ټوله ښار کي خوار و زار یم

ته وا زه دښمن د هر سړي د پلار یم

شیخه ماته دعا وکړه چي لېوه سم

کوڅې پرېږدم اوسېدونکی د ځنګله سم

شیخ پر چوف کړه سپی هغه ګړی لېوه سو

پر سجده سو او روان پر لور د غره سو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو څو ورځي يې کړې تېري په ښکارونو

ګرځېدی پر لويو غرونو پر دښتونو

دواړي زامي به يې سرې وې تر غوړونو

په څيرلو د اوزګړو د پسونو

انګولا يې خوب حرام کړ د کوچيانو

سرګردانه يې کړې ورځي د شپونيانو

ډار يې واچاوه د دښت پر ماشومانو

تر ګودر پوري په لار کي د پېغلانو

يوه شپه په نيمه شپه کي را روان سو

بيا د پير دېرې ته ورغی نالان سو

ويل شيخه په دې غرونو کي پړانګان دي

د ځنګله په هغه بل سر کي زمريان دي

له هيبته يې په ښکار وتلای نه سم

له ستمه يې خپل ښکار خوړلای نه سم

ځغلوي راځخه زما کړي ښکارونه

که څه وايم راته وښيي غاښونه

ته دعا و ماته وکه چي زمری سم

هم په ځغاسته هم څيرلو ګړندی سم

چي د چا نه وي تر ما تېره غاښونه

تر مرګي پوري ونه وينم ظلمونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا به نه راځمه پيره ستا تر کوره

له لمونځونو به دي نه باسم په زوره

پير پر چوف کړه لېوه ځای پر ځای زمری سو

انګولا ورڅخه هېره سوه غړومبی سو

شور يې ګډ کړ د ځنګله په حيواناتو

سمه، غر، ځنګل يې اور کړ د هوسيانو

چا ليدای نه سوای ټولۍ د ګيدړانو

په غارو کي آرام نه و د خوارانو

که به وړی و که نه و ده وژل کړل

له سهاره تر ماښامه يې داړل کړل

له ځنګله څخه کوچ وکړ چغالانو

تخم ورك سو د هوسيانو د سويانو

ګوره څرنګه دا فکر ور پيدا سو

چي د شپې روان د شيخ د کور پر خوا سو

شيخ چي وليدی زمری، ويل يې وايه

څه مشکل يې راوستلی تر دې ځايه

اوس به چا يې پر دې سيمه کړولی

په ځنګله کي خو تر تا نسته ښاغلی

زمري وويل دا نن ځکه غړومبېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يو بل موږك زمرى نه كې ډارېږم

بل مي ښكار ميندلى نه دى په ځنګله كي

ګوندي ستا غوښي د زړه سوده را وكي

چي زمري كړې شيخ ته سپيني خپلي داړي

شيخ يې تو كړلې له قهره پر مخ ناړي

ويل ځغله زما له كوره څخه ورك سه

نه لېوه يې نه زمرى بيرته موږك سه

زمري وكتل و ځانته چي موږك سو

پښېمانى څه ګټه نه كول هك پك سو

د خپل غار پر لور يې پورته كړل ګامونه

رېږدېدله يې لكۍ، اوربوز، غوږونه

خو په غار كي نه ملګري نه خپلوان وه

ده وژلي وه كه ورونه كه سيالان وه

چي په شاوخوا كي پاته موږكان وه

ټول د ده د وينو تږي دښمنان وه

په هر پوست كي يې وژلي حيوانان وه

موږكان وه كه پسونه كه لېوان وه

چي د بل په مټو غټ سي يا زمري سي

په هغه ګړي له قام څخه پردي سي

اول غوښي خوري د خپلو قربانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخوي داړي په خپلو په يارانو

دا يې هېره وي چي نن ته تېرېدل سته

چي هسکېږي يوه ورځ کښته کېدل سته

چي يې عقل خداى موړك غوندي کوچنى کي

يوه ورځ پر خپل بادار باندي غورځى کي

2000- 2- 6

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرچپه قضاوت

یو بډای په یو لوی ښار کې هستوګن و

نعمتونه یې پرېمانه وه شته من و

خدای ورکړي وه کورونه جایدادونه

له نیکونو ورته پاته وه باغونه

همېشه یې وه په کور کې مجلسونه

د رندانو د مستانو محفلونه

پرې راټول به تل ساقیان او مطربان وه

په وینا او په صفت به یې ګویان وه

همېشه یې مېلمانه پر دسترخوان وه

هم رندان، هم ملایان هم سرکاریان وه

غوړه مالو پکښې ژبې ټکولې

حاسدانو په غاښو شونډې چیچلې

یوه شپه یې کور کې نوې ننداره وه

په لکونو یې اخیستې منظره وه

د عصري هنر یو ښکلې نمونه وه

د رنګونو او خطونو تنسته وه

رابللي یې پوهان او هوښیاران وه

شاعران وه استادان، هنرمندان وه

هر یوه د منظرې صفت بیان کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې هر يوه پيدا ځانته جهان کړ

هر يوه ته ښکارېدې خپلې خبرې

مرغلرې او خوږې لکه شکرې

يو بډای چې تر دې نورو ډېر هوښيار و

پړسېدلی خېټور په غوښو بار و

ډېر شته من و مصاحب د شهريار و

همېشه په هر مجلس کې په ګفتار و

په ښي لاس يې و ځنځير ښکلی د زرو

په کيڼ لاس يې وې ګوتمۍ د جواهرو

په غرور سو د تابلو خوا ته ور وړاندې

تر نظر يې کړله تېره لاندې باندې

يو څو ګامه را پر شا بيا ورنژدې سو

په ستايلو په تحسين د منظرې سو

ويل څه ښکلې ببرۍ دې څه بندر دی

څومره ښکلی ترسيم سوی په هنر دی

د بندر له څنګه وګورئ لوی ښار دی

سوداګر دي ګارګر دي کار و بار دی

څه عجب يې ترسيم کړي انسانان دي

د حيرت ګوته په غاښ هنرمندان دي

د تاريخ استاد را وړاندې سو ميدان ته

د شاباس ګوته يې ونيول مېزبان ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل ستا هنري ذوق دی د ستايلو

ګوهر نه دی د هر چا د پېژندلو

دې تابلو کې ما ته ښکاري قلاګاني

د قدرت او عظمتونو شاهداني

پکښې پټ دي د پېرېو داستانونه

د تورزنو جنګياليو تصويرونه

هر يوه کونج کې يې جلا ښخ دي نکلونه

هر يو نکل يې راسپړي تاريخونه

لوی ملا چې رابللی و جرګې ته

په ځير ځير به يې کتله منظرې ته

ده هم ورکړله تابلو ته خپله رايه

وې د ليري يو معبد وينم له ورايه

راته ښکاري يو ټولۍ د انسانانو

عبادت ته به روانه وي يارانو

ښله شکه دا نقاش خالق پرست دی

پر ښتن باندي عاشق د ميني مست دی

چي يې هېر نه دی ښتن په دې تابلو کي

ور په زړه يې دی يو رنګ سلو رنګو کي

دې مجلس ته چا شاعر و رابللی

په ثنا او په صفت کي و منلی

يوه لويه قصيده يې کړه آغازه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوربه د زړه له خوښي سره سازه

وې یې څه ښکلي موجونه څه څپې دي

په تابلو کې د رنګونو قافلې دي

سمندر دی د توپان پکښې نارې دي

د آسمان پر سینه لړي راخورې دي

له افقه د لمر وړانګې راښکاریږي

د روښاني آیندې پر لور ځلیږي

دې تابلو کې تاسې وینئ سیمبولونه

ترسیم سوي نن سبا او تېر وختونه

تاریخي قلا یې نقل د پرون دی

نن توپان دی لمر نښان د سباوون دی

د ګلبوټو پر ښاخونو چې زوزان دي

د یارانو په محفل کې غمازان دي

یو نقاش هم دې محفل ته ور راغلی

یوه کونج کې چیرته ناست و اسکېرلی

کوربه ږغ په لوړ آواز کړله نقاشه!

ته هم ورکه خپل نظر تصویر تراشه!

دا خو ته یې چې تابلو به دې ستایلای

یو په یو به دې رنګونه راسپړلای

ته پوهېږې په اسرار د تصویرونو

ستا به زده وي ګونګه ژبه د رنګونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قدم قدم نقاش راغی نیژدې سو

په ځیر ځیر په ننداره د منظرې سو

پر څېره يې د حيرت نښه ښکاره سوه

پر شونډانو يې نرۍ مُسکا خوره سوه

وې بېشکه د لکونو منظره ده

خو افسوس چي ځړېدلې سرچپه ده

ویرجینیا

1999- 12- 18

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیخ نصرالدین

ډېر پخوا په یوه کلي کي یو ځوان و

هم غښتلی هم په عقل پهلوان و

خو هر ګوره هم بېکسه هم نېستمن و

له نصیب څخه په زړه کي ګیله من و

نصرالدین ورباندي نوم ایښی خپل پلار و

نصروګی خلکو باله ځکه چي خوار و

نه یې ژمی نه یې دوبی په راحت و

له یخنیه له ګرمیه په زحمت و

زړه یې تور سو له خپل ملکه له خپل ښاره

له لویانو کشرانو سو بېزاره

ویل ځمه په سفر هر څه چي کېږي

له نصیبه له قسمته به پېښېږي

په خواری پسي یې لېځي وغړلي

په ملکونو ګرځېدی کلي په کلي

یوه ورځ پر نصروګي باندي تیاره سوه

په زیارت کي یې د شیخ پر لنګر شپه سوه

دا زیارت او دا لنګر د شیخ قادر و

په پیرانو کي منلی معتبر و

د زیارت هره ګوښه کي څو کوټې وې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښي ناست وه مېلمانه کيسې تودې وې

له لنگره راوتلې کاسې ډکې

مېلمنو پکښي وهلې گولې کلکې

په لنگر کي نصروگی ورته دېره سو

په ټولی د تيارخورو کي مېلمه سو

چي کيسې د مېلمنو يې اورېدلې

د خپل هوښ په ترازو کي يې تللې

د دروغو يې سل واورېدل نکلونه

ورځرگند سول د لنگر او پير رازونه

نصروگی هم په خلوت کي پر سجدو سو

له سهاره تر ماښامه په نفلو سو

نه خوراك ته يې و پام نه و کيسو ته

کری ورځ يې وه ورکړې و سجدو ته

په خبر چي ملنگان او دروېشان سول

په ثنا او په صفت ورته گويان سول

شيخه کله يې راغلی له کوم ښاره

موږ دي ټول سو قرباني پر هغه لاره

نصروگي چا ته ورنه کړل جوابونه

ملنگانو پر زړه يووړله داغونه

يو مريد چي په دې نورو کي هوښيار و

د لنگر په لڅو پڅو خبردار و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدستي يې شيخ قادر ته ويل پيره

ستا قربان سم د شيخانو لويه ميره

زموږ لنګر لره راغلی مسافر دی

کرۍ شپه پر سجده پروت دی بختور دی

له سهاره تر ماښامه کړي نفلونه

په سجدو يې ستړي کړي محرابونه

نه دا ټوله ورځ له چا سره ږغېږي

نه خبرو نه کيسو ته وزګارېږي

نيمه شپه پير د خلوت پر لور روان سو

پټ په غوږ کي نصروګي لره ګويان سو

ويل ژر دي د مطلب خبره وايه

همدا نن شپه روانېږه له دي ځايه

نصروګي ويله پيره ستا قربان سم

ستا په امر به په نيمه شپه روان سم

په خوارۍ پسي له ښاره يم وتلی

مسافر د بل وطن په زړه نتلی

خپل نصيب کړم برابر پر دغه لاره

اوس کومك غواړم له تا او له باداره

پير را وايستې يو څو پيسې دباندي

په نرمي يې نصروګي ته کړې ور وړاندي

ويل څه دغه پيسې دي هغه خر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازوه يې ډېر غښتلی ځناور دی

نصروګي پيسې راواخيستې حيران سوګ

پر خره سپور سو د نصيب پر لور روان سو

يو څو شپې يې مزل وکړ د دښتونو

خر يې زوړ و ژر ناروغ سو له مزلونو

نيمه ورځ يې ساه شړل پروت و پر لاري

له دوو سترګو يې راتلې د اوښکو داري

تر ماښامه نصروګی بيرته تنها سو

خر يې مړ په زړه زخمي په واويلا سو

خر يې ښخ کړ يو لوی قبر يې ور جوړ کړ

کړی شپه يې اوښکي توی کړې زړه يې سوړ کړ

په سبا يې ورته راوړه له بازاره

يوه سره او زرغونه جنډې تياره

ويل دا د غيبانه بابا زيارت دی

ما ميندلی د کلونو په زحمت دی

شپه او ورځ مي ورته کړي وظيفې دي

په نفلو مي سپيني کړي ورته شپې دي

لس پنځلس ځله خوب کي دی راغلی

په خپل لاس يې ما ته خپل قبر ښودلی

دا زيارت دی د زړه ماتو رنځورانو

د نېستمنو کونډو رنډو پردېسانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زيارت خبري تلې تر وطنونو

غيبانه بابا مشهور سو پر ملكونو

چا غوايي ورته راوړله چا پسونه

چا پيسې ورته راوړې چا خيراتونه

كه سپاهي و كه كوتوال كه حكمران و

غيبانه بابا ته هر څوك ور روان و

په لږ وخت كي نصروگی شيخ نصرالدين سو

هم شته من سو هم ولي سو آس يې زين سو

اوازې يې سوې خپرې پر هيوادونو

تر نيژدې، ليرې، وړو، لويو ښارونو

درې څلور يې په نكاح كړلې عورتې

ښايستې وې لكه زركې لكه بتې

شيخ قادر ته احوال وركړ مريدانو

په لنگر كي تيارخورو ملنگيانو

چي يو شيخ دی پيدا سوی له شيخانو

وايي پير يم د خوارانو بې وزلانو

پښې لاسونه يې جوړ كړي د شلانو

بينا كړي يې دي سترگې د ړنديانو

هنگامه يې په ملكونو كي خپره ده

تر هر كونج پورې يې تللې اوازه ده

دې كيسو د شيخ قادر زړگوټی شين كړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي شيخ د ده په خونه جوړ ناورين کړ

هم يې شيخ هم يې هوښيار مريد غمگين کړ

نيمه شپه وه را روان سو آس يې زين کړ

په زيارت کې يې د شيخ وکړه پوښتنه

هغه نه مانه خلوت کې ځوك دننه

خو چې نوم د شيخ قادر يې تر غوږو سو

سمدستي په خپل خلوت کې په ټوپو سو

ويل مه راځئ مجلس ته مريدانو

راز و نياز دی په خلوت کې د پيرانو

چې يوازې په خلوت کې دوه شيخان سول

يوه بل ته يې کتل سره گويان سول

د دې نوي زيارت نکل يې بيان کړ

حقيقت يې شيخ قادر لره عيان کړ

شيخ قادر ويل پر تا دې آفرين وي

ستا پر ټولو غليمانو دې ناورين وي

زما او ستا حقيقت ځکه نن پنهان دی

چې په دواړو مو ملگری يو شيطان دی

چې پر خره باندې بيرغ دی درولی

د شيطان دې لاس تر شا دی اړولی

ښه يې وساته بچيه دا نسلي دی

پلار يې زما ځخه جوړ کړی پير ولي دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نيکه سر يې لا ښخ دی په بل ښار کي

زر درويښه يې پراته ورته په لار کي

د هر چا د زړه حاجت په روا کېږي

رسينده دی د هر چا په داد رسېږي

زرغونې او سرې جنډۍ باندې رپېږي

د کلونو رنځوران پکښې رغېږي

په رمو ورته را درومي دروړونه

ساده ګان يې پر زيارت کړي طوافونه

د پښتون قام دی کهول د جاهلانو

پکښې تل ګرځي فوجونه د پيرانو

کچکول نه پرېږدي خالي د ملنګانو

لېونی په دې وطن کي قلندر دی

د هر ټګ او د ټګمار يو تود لنګر دی

چي هر ځوک سې باوله خيرني ځونې

وربخښي خلك پيسې خوښدي او لونې

پرون ډم ورته راغلی نن آغا دی

هم سيد دی هم بزرګ دی هم ملا دی

چي اوږده ږيره يې پرېښوده پېشوا دی

هر يو سترګی د رندو د ښار پاچا دی

که پر دې دنيا دي خوښ وي جنتونه

ښايستې حوري غلمان او شرابونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو څو ورځي درته بويه خلوتونه

جوړوه په لويه لار کي زيارتونه

په ميراث پرېږده ټبر ته لنګرونه

پاچهي کوه نسلونه پر نسلونه

واشنګټن

2000- 4- 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مهار کړي اوښان

سره غرمه سوځنده لمر و سور بیابان

کمکۍ اوښه وه په پای کي د کاروان

دروند یې بار وربانديي ایښی د سامان و

غوټه کړی یې په مور پسي پېزوان و

چي هر څو یې پی کوله رباتونه

نه مزلونه خلاصېدله نه دښتونه

په ژړا ژړا یې بړغ کړل خپلي مور ته

خدایه څه مهال به ورسېږو کور ته

راته نه ښکاري دا لار د ختمېدلو

توان مي نسته په وجود کي د ځغستلو

لږ په ورو اخله قدم ګړندۍ موري

تر سږمو مي وزي نته پوري ووري

دومره ولي په تلوار اخلې ګامونه

یو په یو مي ټول خوږېږي اندامونه

مور یې شنه د ژړا ولاړه ویل لوري

زما په پزه کي نتکۍ ده بختوري

په بل اوښ پوري مهار مي دی تړلی

د هغه مهار بل اوښ ته غځېدلی

لا په مخ کي لس یوولس نور اوښان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرندي په دې دښتونو کي روان دي

زموږ په مخ کي يو لوی اوښ دی زورور دی

نازولی د بادار دی زموږ افسر دی

د هغه مهار په لاس کي د انسان دی

د بادار له ساروانانو يو ساروان دی

ځي په امر د بادار او د لويانو

هغه نه ګوري خاطر د حيوانانو

زه پخپله يمه ستړې له مزلونو

زګېروی اورمه د خپلو اندامونو

په کلونو دې دښتو کي يم روانه

ستا په شان مي واك پردی دی له خپل ځانه

بند پر بند مي ټول وجود راته ژړېږي

هر هډوکی مي جلا جلا خوږېږي

له ناکامه وړم بارونه پر دې لاري

انسانان مي هره ورځ ګامونه ښاري

هره ورځ که سو را پام د ساروانانو

سمدستي مي خرڅوي پر قصابانو

وېشل کېږي به مي غوښي پر کورونو

د پښتيو، د لاسونو، د ورنونو

هغه لوی بختور اوښ چي نن غړومبېږي

يوه ورځ د ده نوبت هم رارسېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی به هم سي د قصاب تر چړې لاندي

يو بل اوښ به سي افسر تر نورو وړاندي

له ازله مو نصيب راغلی خوار دی

چي لوېدلی مو د بل په لاس مهار دی

ويرجينيا

2000- 19- 8

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ابلیس پندونه

یو کیسه مي اورېدلې ده یارانو
د ابلیس د اولادونو شیطانانو
یوه ورځ ابلیس راټول کړل اولادونه
د چا سل وه د چا زر کاله عمرونه
ترې یې وپوښتې کیسې د عملونو
د خاورین بنده د کړو ګناهونو
څه تخمونه د فساد مو دي شیندلي
څه بدۍ مو دي په مځکه کي کرلي
مشر زوی چي یې په عمر زر کلن و
مخ یې تور په ونه جګ په اوږو پلن و
سمدستي سو د خپل پلار مخ ته ور وړاندي
شیطاني پاڼې یې کړلې لاندي باندي
ویل پلاره یوه ډله ماشومان وه
په خوښۍ د مدرسې پر لور روان وه
ما یې لاره کړه بدله و بازار ته
له مکتبه مي رهي کړله قمار ته
تله جومات ته بله ډله د زلمیانو
ما روان کړله پر لار د فسادیانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل او څو پرهېزګاران مي شرابيان کړل

له خلوته مي پر بده لار روان کړل

ابليس ورکړله پر مخ څپېړه کلکه

ويل يې چپ سه بېخبره بې درکه

لا اوس هم نه يې تر ځايه رسېدلی

ته وا نه يې له ابليس څخه زوولی

تا ته اوس هم شرابونه قمارونه

لا ښکارېږي جنايت او فسادونه

هی افسوس چي پر تا تېر سول زر کلونه

له خپل پلاره دي وانه خيستل پندونه

دوهم زوی سو را دمخه ويل پلاره

کښېنستلی پر ځای نه يمه بېکاره

پرې به نه ږدمه چي يو سړی پر لار وي

چي ژوندی يم همېشه به مي دا کار وي

ډلي ډلي مي له لاري دي ايستلي

څوک مي غلا څوک مي زنا ته هڅولي

سل مي ښځي له مېړونو جلا کړي

نېکمرغيو ته مي ساندي دي وروړي

يو په بل مي انسانان دي قتل کړي

بې ګناه مي په ناحقه تور نيولي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابلیس وواهه پر مخ باندي په زوره

ویل کشکي ته پیدا نه وای له موره

ته لا اوس هم خبر نه یې فساد څه دی

د نېکیو او بدیو بنیاد څه دی

چي انسان خدای له ازله پیدا کړی

په خمیر کي یې فساد دی ور اخښلی

پر دنیا چي خدای کرلي دي قومونه

د انسان په وینه ګډ دي فسادونه

که پر مځکه شیطانان وي او که نه وي

که دامونه د شیطان وي او که نه وي

انسانان به وي اخته په بدو چارو

دا دنیا به مالامال وي له بدلارو

خبردار چي نوم د قتل ځوك یاد نه کړي

په نامه د قاتلانو زړه ښاد نه کړي

ما د قتل نوم دنیا ته دی راوړی

ما د ورور په چاړه ورور دی حلال کړی

ما هابیل دی په قابیل باندي وژلی

ما د خون او قتل تخم دی کرلی

چي پر مځکه انسانان وي دا به کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تېغونو به سرې ويني راڅڅېږي

هغه زوی چې يې تر ټولو کشری و

هم خوارځواکی هم په ونه ټيټ گردی و

خو په کور کې د شيطان لکه زمری و

هم په عقل هم په ژبه گړندی و

ويل پلاره ما ټول کال زحمت ايستلی

شپه او ورځ مې په خوارۍ دی ځان وژلی

کښېنستلی کرار نه يم له چالونو

يو گړی نه يم بېغمه له دامونو

هلته ليري يوه ښار کې حکمران و

هم هوښيار و هم عادل پر خلکو گران و

پر وطن يې جوړه کړې کراري وه

شپه او ورځ يې په کورونو کې ښادي وه

ما راپورته يو نا اهله کړ د ښاره

د قدرت مې ورته جوړه کړله لاره

اوس په ښار کې دا نا اهله حکمران دی

يو ناپوه دی په گونگۍ ژبه گويان دی

په وطن کې عدالت نسته ستم دی

خوښي نسته واويلا ده تور ماتم دی

نه مېلې سته نه سازونه نه جشنونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زلمي او پېغلي ګډ کوي رقصونه

نه هوسيو غوندي ښکلي نجوني غورځي

نه خندا د چا پر شونډو باندي ګرځي

چي هوښيار دي نن سبا ورنه کوچېږي

د حاکم له لاسه مېنه سپېره کېږي

له خوښيه ابليس وکړله چيغاره

اخ تر خوله دي سم قربان زويه هوښياره

زوی دا ستا په شاني ښايي ابليس پلار ته

شرمنده دي مشران وي ستا کردار ته

چي نا اهله په وطن کي پر قدرت وي

تباهي به يې ليکلې په قسمت وي

اوس پخپله يو د بل په لاس قتلېږي

اوس پخپله د انصاف تله ورکېږي

نه تميز د ښو او بدو به اوس کېږي

نه په شرم نه ګناه به څوک پوهېږي

نه به لاس د چا ګرېوان ته ور رسېږي

نه ظالم به له مظلوم څخه بېلېږي

نه په داد به څوک رسېږي د خوارانو

نه به اوري څوک فرياد د مظلومانو

قاتلان به ګرځي سرې سترګي په ښار کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېگناه به قصاصېږي په بازار کي

چي د چا په سر کي سترګي د ليدو وي

ورته مخ به د ناورين او جنازو وي

د چا عقل چي انسان غوندي پر لار وي

يا په دار لکه منصور يا به سنګسار وي

چي نا اهله واکداران چيري پيدا سي

د تيارو سي ورته مخ د ورځو شا سي

که مو نه سرېږي زړه په انسانانو

که تباه غواړئ نړۍ د بندګانو

که اورونه ابدي غواړئ بچيانو

که دوږخ مو وي مطلب د دې خاکيانو

که تل غواړئ پاچهي د شيطانانو

واك ضرور دی د نااهلو حاکمانو

ويرجينيا

1999- 4- 6

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اصیل میراث

یوه ورځ کاروان روان و په دښتو کې

په اغزو کې د اهاړ په سرو غرمو کې

له توند باده سره دوړې بادېدلې

زنګولې په قافله کې شرنګېدلې

خولې او پزې وې پېچلې ساروانانو

لارې ورکې وې په دوړو کې له سپيانو

غرغړې به کړې په دوړو کې اوښانو

هم رمباړې به سوې پورته له جونګيانو

په دې ترخ کې يو جونګی پلار ته نيژدې سو

ترې يې وکړله پوښتنه په ګيلې سو

ويل پلاره زما په زړه کې ده پوښتنه

اندېښنه مې دا ځو ورځې خورې دننه

ستا په مخ کې زه بل اوښ ګورم روان دی

نازولی د صاحب او د ساروان دی

ساروان تل کوي خبرې د ماريانو

مارې اوښ وايي اصيل دی د اوښانو

زه چې ګورم اصيل نه رامعلومېږي

خوراك ډېر کوي له بار څخه بېرېږي

چې تر بار لاندې يې لړ اوړې درنې سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم غړومبېږي هم يې پورته غرغړې سي

د ماريانو وي اکثر بدرنگي غاړي

لا په لار کي بېهوده وهي رمباړي

پر هر ځای چي اغزي ويني پر حمله کي

هر گړی به غاړه شپږ گزه اوږده کي

هم په ونه تر ده جگ هم زورور يې

هم په ځغاسته کي چابك يې هم زړه ور يې

هم درانه دربانديي بار وي تل بارونه

هم دښتونو کي اوږده وهې مزلونه

نه تمامه ورځ په غم کي د خورا ك يې

نه کمزوری يې تر هر يوه چالاك يې

ماري څرنگه اصيل وي په کتار کي

څوك به وي چي په دې سُر مي خبردار کي

پلار يې غاړه کړه اوږده بيا يې کږه کږه

ورته لنډه يې د ژوند اوږده کيسه کړه

ويل دا قانون دا زر کاله جاري دی

د هر اوښ لکۍ چي وتړې ماري دی

له ماري اوښه هر اوښ چي پيدا کېږي

د ماريانو په کتار کي حسابېږي

چي پيدا سو له ماري هغه دي ښه خوري

د کاروان مخ کي روان کمه دي نه خوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اصیل هم نازولی د اوښانو

هم منلی د ساروان هم صاحبانو

خو چي زموږ په څېر نه اصل نه ماري وي

نه په مخکي يې ساروان رهي کاري وي

هم به ځي تر قصابانو هم باري وي

په قسمت يې رسېدلې تل خواري وي

تل يې نته وي په پزه درد په ځان کي

د ماريانو تر شا درومي په کاروان کي

کله کله ساروان ورکړي ګوزارونه

له وهلو يې خوږېږي اندامونه

تل حساب وي د کم اصلو په حساب کي

نوم يې نه وي د ماريانو په کتاب کي

چي خبري د کاروان سي يا د بار سي

زموږ په ډله کي يې لس اوښه په کار سي

او چي وخت يې د خوراك او د اغزو سي

هلته هر څه پر ماري باندي پېرزو سي

2001- 9- 16

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چرگ او باز

یوه ملك كي هستوګن چېرته لوی خان و

خان لا څه چي په تربرونو كي سلطان و

په سلګونو یې جوړ كړي وه باغونه

بهېدل یې په شنو مځكو كي سیندونه

ډېر شوقي و د ښكارونو د بازانو

په بازانو كي پاچا و د سیالانو

ډلي ډلي یې درلودې د مرغانو

د كوترو د سیسیو د چرګانو

یوه ورځ د چرګ او باز سره جرګه سوه

د جرګې خبر كرار كرار ترخه سوه

كلنګي چرګ ته باز وویل مغروره

كبرجنه بې وفا یې لكه توره

له سهاره تر ماښامه په نس موړ یې

پر بامونو باندي ګرځې په زړه سوړ یې

كری ورځ درته رسېږي نعمتونه

د جوارو درته ډك دي ګودامونه

نه مي وږی یوه ورځ یې ته لیدلی

نه په كار پسي بادار یې استولی

نه له تا كوي څوك تمه د كارونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وزر لرې د لویو پروازونو

ورځ دي تېره په خوښۍ سي په سیلونو

د مستیه باسي زور تر آذانونو

خو چي کله نوکر ځغلي چرګان نیسي

دوی دوې خپلي کړي دوې پور کړي دوې رانیسي

که کمکي دي که لویان دي په نارو سي

څوک په منډو سي څوک پورته پر بامو سي

ته هم ګډ سې په ټولۍ کي د چرګانو

خلاصوې يې په ځغستا له انسانانو

زه چي باز یم خدای راکړي شهپرونه

تر یاغي وزر مي لاندي دي لوی غرونه

د آسمان پر لور کومه پروازونه

کښته وینم سمندر خوني موجونه

له هیبته مي پر مځکه مرغان ورك سي

په سینه کي د آسمان تیت او پرك سي

له مشوکي له منګولي مي لړزېږي

د سرو سترګو له هیبته مي ببرېږي

زه راوړم له هسکو غرو څخه ښکارونه

زما له وهمه په هوا کي چوي زړونه

خو چي کله مي بادار و بولي ځانته

له آسمانه يې رالوېږمه ګرېوان ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا يې کښېنم پر اوړو يا پر لاسونو

منتظر د اشارو يم د امرونو

کلنګي چرګ ويل غوږ ونيسه بازه

زه او ته دواړه مرغان دواړه همرازه

ستا خبري د شهپر مي اورېدلي

د تېره منګول کيسې مي دي منلي

مګر تا کله پوخ کړی باز ليدلی

تا کباب دی د بازانو اورېدلی

کله باز دی چا خوراك لره وژلی

تا ليدلی دی په سيخ چېرته پېيلی

زما په مخ کي زما چرګوړي حلالېږي

زه يې وينم زما همزولي کبابېږي

چي د خان په کور کي ږغ د مېلمستيا سي

د چرګانو په کور ګډه واويلا سي

هر يو چرګ خپله چاړه ويني اوبو کي

د سينې ورنونو غوښې په دېګو کي

د جوار چي موږ ته ډك لري لاسونه

زموږ پر غوښو هره شپه باسي تېغونه

او چي تا کړې د شهپر لاپې آغازي

نو در واخله دا يو څو خبري سازي

ته ښاغلی يې په کور کي د خانانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په ښکار وزي د خپلو همنوعانو

ځان پاچا ګڼي په کور کي د مرغانو

خو په لاس کي يې غلام د انسانانو

تر هغو به يې خانانو ته منلی

چي د ښکار له زوره نه يې لا لوېدلی

چي تېره دي وي منګول تېز دي شهپر وي

په آسمان او سمندر کي دي لاس بر وي

يوه ورځ چي دي منګول کي ختم زور سي

په هغه ورځ به دي ژوند درته پېغور سي

يو کم اصل درته وايي بل بد ذاته

د ناز کور به دي سي بل ظالم ته پاته

چي تر تا په زړه کي سخت او ګړندی وي

په نيولو او ښيرلو کي زمری وي

لټوي چي غر او سمه لاندي باندي

په منګول ښيري نسونه وروسته وړاندي

ستا په شان به هغه هم اخته په ښکار وي

نازولی به د مير او د بادار وي

ته به هېر يې د بادار د نوکرانو

مسخره به يې د ډلي د چرګانو

ويرجينيا

2000- 8- 18

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیشو توبه

ډېر پخوا وه په کلا کي یوه خونه

پکښې جوړ وه ګدامونه انبارونه

هم د وریجو هم جوارو پرېماني وه

هم شکري هم غنم وه جوالونه

موږکانو جوړه کړې ورته لار وه

په دې خونه کي یې کړي وه غارونه

چي پیشو به راښکاره سوه دوی به ورك سول

له غارونو به یې نه راتلل ږغونه

یو څو ورځي پیشو پاته سوه دننه

هره ورځ به یې څارل د دوی کارونه

ګوندي نن یا سبا وځي سي راووزي

موږکان په وجود خوار وږي نسونه

ورځ به خواره وي د دوی زما به مېله وي

د هفتو میاشتو به واخلم کساتونه

په لکیو په برېتو به یې کړم لوبي

په پنجو به یې څیرم نازك پوستونه

نازوي به مي بادار او بي بي دواړه

د موږك غریب څوك اوري فریادونه

یوه ورځ د یوه غار په خوله کي ناست و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو موږك اوږده برېتونه بوڅ غوږونه

د پيشو چي ورته پام سو پر سجده سوه

څو يې پرله پسې وكړله نفلونه

لاس يې پورته كړ و خداى ته په دعا سوه

ويل ته مي را معاف كړې گناهونه

ما وژلي بې آزاره موږكان دي

په دنيا كي مي ډېر وكړل آزارونه

څه عاجز څه ښكلي ښكلي بندگان دي

بې گناه مي ولي وكړله خونونه

دا توبه مي كړې قبوله لويه خدايه

ما ته مه كړې را نصيب ستا عذابونه

موږك واورېده توبه د پيشو جاني

استغفار او ډول ډول قسمونه

د پيشو ژړا يې وليده په سترگو

چي كول يې د قبلې پر لور خواستونه

وروسته ورو سوه د موږك خوا ته روانه

ويل واوره ما خوړلي سوگندونه

باقي ژوند به مي طاعت او عبادت كړم

په پرهېز به تېروم پاته كلونه

كه چا غوښې په خيرات كي راكړې خورم يې

نور پر ما باندي حرام ژوندي ښكارونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور له غار څخه راووزه موږك جانه

د كندو په مخ كي جوړ كړه اتڼونه

مبارك دي د كندو غوړي مېلې سه

ځه خوښي كوه نڅا كوه رقصونه

پر دنيا درته څوك څه ويلاى نه سي

دې جهان كي ځانته جوړ كه جنتونه

موږك واورېدې خوږې خوږې خبري

نه يې پښې په حركت سوې نه لاسونه

د پيشو د نصيحت اثر ونه سو

و موږك ته يې معلوم زاړه مكرونه

نور پيشو سوله له غاره څخه ليري

ويل گوره زه پر شا اخلم گامونه

كه له دې تر هغه غاره پوري ولاړ سې

در كومه تا ته لوى لوى انعامونه

يو به در كم د كندو اختيار په لاس كي

بل درښيمه د وريجو گودامونه

د غوړيو ذخيرې ته به دي بوزم

تر قيامته به در غوړ كمه برېتونه

تر خپل غار پوري به دونه بوره يوسې

چي بسيا دي اولادونه سي نسلونه

د موږك تر خولې اوبه راتويېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصور ته يې راتلل ټول نعمتونه

مگر تېره يې پيشو کړه له نظره

ژړي سترگي سپين تېره تېره غاښونه

ويل ما لره د غار قناعت بس دی

خدای دي تا ته کړي په برخه جنتونه

فاصله ده ډېره کمه انعام زيات دی

په دې کار کي راته ښکاري حکمتونه

هسي نه چي زه له غار څخه در ووزم

ته مي ښخ کې په سينه تېره نوکونه

دښمني مو پخوانۍ ده زر کلنه

زما نيکونو ازمېيلي ستا نيکونه

ستا نيکونو داسي ډېري توبې وکښې

داسي ډېر يې ننگولي محرابونه

داسي ډېري توبې ماتي سوې نيمگړي

نيمه خوا سوله قولونه پرهېزونه

خو گناه نه د توبې نه د سجدې ده

ستا په خټه کي اخښلي دي ظلمونه

2000- 3- 6

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګ پر پوستين دی

يوه ورځ ملا په خپل کور کي بيده و

په خوړو خوبونو مست لکه مينده و

سپيني غوښي يې خوړلي تر سړمو وې

ښورواګاني يې څټلي د کاسو وې

خورهار يې رسېدی تر ګاونډيانو

حرام کړی يې و خوب د ماشومانو

چي پر اړخ به راواړاوه مېرمني

بيا به ستوني ستغ سو لاندي تر بړستني

تر پخوا به يې په لوړ اواز خورکی سو

لا په منځ کي به زګېروی کله شپېلکی سو

له ناکامه به يې ښځه په ژړا سوه

خپل مېړه يې خواږه خوب لره بلا سوه

نيمه شپه يې د کور مخي ته غوغا سوه

څه سړي وه څه د سپيو هم غپا سوه

وار په وار پورته کېدله آوازونه

د ملا مېرمني ونيول غوږونه

پنځه شپږ ځله يې خپل مېړه ټېله کړ

بيا يې کش يو ځل تر لاس بيا تر سړمه کړ

ويل کښېنه د کور مخي ته جنجال دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د سپیو هم سرِیو غالمغال دی

زموږ کوځې ته به حتماً وي غله راغلي

يا به څوك وي چا وهلي يا وژلي

ملا غاړي کړې تازه يو څه حيران سو

پر اوږو يې کړ پوستين پسي روان سو

په کوڅه کي څراغ نه و توره شپه وه

شپه د ژمي هم سړه وه هم تياره وه

څو کسان وه په کوڅه کي يې دعوه وه

يو له بله يې وهلي وه جګړه وه

ملاجان ته پته نه وه چي د چا سي

چي د کوم يوه دښمن د چا پر خوا سي

يو او بل ته په خبرو په کيسو سو

په تياره کي د جګړې په خلاصېدو سو

چي ملا کړ ځان تيار د جګړې لور ته

چا پوستين کړ له اوږو ورڅخه پورته

چي هر څه يې شاوخوا پسي نارې کړې

چي يې جوړې سوې سوې غلبلې کړې

مځکه چاك سوه پکښې ورك د ده پوستين سو

د ملا مسکين پر کور باندي ناورين سو

خلك سترې جګړه خلاصه کراري سوه

په تياره کوڅه کي بيرته خاموشي سوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مېرمني يې آغازي کړې پوښتني

د ملا تر زړه وتلې د غم ستني

ويل مه کوه پوښتنه د وګړو

زما پر خوار پوستين جګړه وه د زوی مړو

چي پوستين له منځه ووتی جنګ سوړ سو

بدي ولاړه هر سړی له جنګه موړ سو

په پردي جنګ کي بايللی مي پوستين دی

پر لړمون مي چړې ګرځي زړه مي شين دی

چي ناحقه پردي جنګ ته ورګډېږي

خپل پوستين به يې د غلو په لاس کي لوېږي

له ملا څخه خوابدې سوه عورته

اوس ګيله وکړي له غلو که له قسمته

ويرجينيا

2002- 3- 13

## د آفتونو مور

څو چرسيان سره راټول وه هر يو سر و په کيسو

په دا منځ کي يوه ږغ کړه کور دي وران سي د شلومبو

که زه هره ورځ پاچا سوم زه به منع کړم شلومبې

لوی دښمن به تر دې نه وي په دنيا کي د نشې

هغه بل باندي را ږغ کړل چي شلومبې له کومه کيږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د سر دښمن مستې دي چي شلومبې ځيني جوړېږي

له مستو که مو خالي کړل په دنيا کي وطنونه

نو به سر پر سر نشې وي پوچوو به چلمونه

ها دريم چرسي را ږغ کړه ويل ټول نشه ښکارېږئ

له مستو او له غړکي او شلومبو څخه ببرېږئ

که شيدي پر دنيا نه وي نه مستې نه به شلومبې وي

نه غړکه به څوك شاربي نه دښمن به د نشې وي

علت ما درته پيدا کړ فکر وکړئ هوښيارانو

د شيدو چاره په کار ده که نشه نه ياست يارانو

د مجلس په يوه کونج کي بل چرسي و غزېدلی

دې کيسې ته يې تر پايه غوږ نيولی چرت وهلی

ويل اوس راته معلوم سواست چي نشه ياست بې عقلانو

دا څه ګډې وډې واياست بې خبرو سودايانو

نه شيدې دي نه مستې دي را رواني له آسمانه

نه وياله له شلومبو ډکه چا ليدلې ده روانه

له غړکي به خلاص نه سئ پر دنيا چي ژوندی غوا ده

دا د هري بدۍ سر دی دغه زموږ په ځان بلا ده

2001- 1- 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلکو خولې نه تړلې کیږي

یو سړی و خپله ښځه ورسره وه

دی پیاده ښځه پر خره باندې سپره وه

د مېړه او د مېرمنې مرکه وه

څه غیبت و څه صفت کیسه توده وه

څه له یونو څه له خواښې په ګیله وه

څه یې نورې کیسې کړې لاره اوږده وه

پر سړي باندې مېرمن وه ډېره ګرانه

یوه ورځ یې ستړی نه سو له بیانه

چیرته ناسته وه ټولۍ د بېکارانو

مسافر ته یې سو پام د ظالمانو

ویل ګورئ دا بې شرمه بې غیرته

دی پیاده ځي پر خره ناسته ده عورته

دا وطن به له بې ننګو خرابېږي

نه له خلګو نه له قوم څخه شرمېږي

نه معلوم دی ورته قدر د مېړونو

نه بېرېږي د عالم له پېغورونو

د مېړه مقام کتاب دی ذکر کړی

خدای پخپله په قران کي پېژندلی

کموي د مړو قدر بې ننګان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بې قومه دا بې پلاره ناکسان دي

سړي واوريدې د ډلي سپکي سپوري

لا تر غوږ يې سوې يو څو خبري نوري

ويل ښځې ته پياده سه زه سپرېږم

د دې خلګو له پېغور څخه بېريږم

چي له کلي څخه ووتو دباندي

زه پياده ځم ته سپره له ما د وړاندي

چي پياده ښځه روانه سړی سپور سو

په يوه ګړي کي جوړ ورته پېغور سو

ويل وګورئ ظالم چي پر خره سپور دی

په مزلو يې ښځه مړه کړه مخ يې تور دی

جګه ونه سور يې مخ دی اوږې پلني

په مړانه کي کمزوری تر مېرمني

مور او پلار دا خېټور دی نازولی

په خواري يې د لمر مخ نه دی ليدلی

دا له خدايه نه شرمېږی ظالمان دي

په بيابان کي ګيدړان د کور زمريان دي

چي په کور کي وي لوی سوي نازولي

دوی سپاره ښځې پياده ورسره ځغلي

همېشه د بل په لاس په نس ماړه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د جنګ دي نه د ننګ تیار خواره دي

چي سړي خبري واوریدې حیران سو

سمدستي له خره راکښته سو روان سو

خر دمخه دوی تر شا وهل مزلونه

ویل ګوندي اوس به کم سی پېغورونه

لا یې شل قدمه نه وه اخیستلي

لا د کلی منځ ته نه وه رسېدلي

چي تر غوږ یې سول د خلګو آوازونه

د هلکانو د لویانو ریشخندونه

دا سړی او ښځه دواړه لېونیان دي

خر دمخه دوی پیاده پسي روان دي

که پر ښنو یې دی دا اوږد مزل وهلی

نو یې خر د څه دپاره رانیولی

په خندا یوه را بږغ کړله ځوانانو

له عالمه بې خبره هلکانو

دغه خر یې هم ملګری هم رهبر دی

په دښتو کې لار ښوونکی د سفر دی

دوی له خره سره روان ورسره مله دي

که دا خر ورسره نه وي دوی ړانده دي

هم مېړه هم یې مېرمن پر دې سلا سول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ناکام څخه سپاره د خره پر شا سول

بیا له سره یې شروع خپلي کیسې کړې

ور په زړه یې تېري تېري خاطرې کړې

ور په یاد یې کړل د خلګو ریشخندونه

پر هر موړ باندی ښکنځل او پېغورونه

چي ناڅاپه یوې ډلي د ځوانانو

له عالمه بې خبره بې کارانو

ویل وګورئ دا څونه ظالمان دي

پر یوه خره سپاره دوه تنه لویان دي

نه زړه سوی لري دا خلګ نه زورېږي

نه له خدای نه له عذاب څخه بېرېږي

نه یې شرم له مخلوقه د دنیا سته

نه په زړه کي یې څه ویره د عقبی سته

که هر څو یې ځان له موږ څخه پردی دی

که حیوان دی ژبه نه لری ګونګی دی

خو د خدای له قهره هم بېره په کار ده

یوه ورځ د ټولو خلګو ګور ته لار ده

پر حیوان باندي چا ایښی دومره بار دی

خدای ته وګورئ یو څه انصاف په کار دی

په قیامت به را ژوندی دغه حیوان سي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدستي به د خاوند پر لور روان سي

دی به ځغلي خر به جگ وربانديي سپور وي

په اوړو به ساه شړی مخ به يې تور وي

له مېړه له ښځي ورکه سوله لاره

هم له خره هم سفره سوه بېزاره

مېړه بيا پر پښو روان ښځه سپره سوه

بيا له سره هغه نوې ننداره سوه

دروازی د ښار بندېږي په قلفونو

څوك تړلای نه سي خولې د عالمونو

ويرجينيا

15/3/2002

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شیطاني دعا

دوه یاران سره ملګري وه کلونه

یو یې ژوند یو دسترخوان و یوه خونه

یو یې ټینګ پر عبادت مسلماني و

تل پر وخت به یې کول پنځه لمونځونه

د کال ښې ورځې به تل روژه په خوله و

کله کله یې د شپې کول نفلونه

د پیرانو د شیخانو اخلاص مند و

په هر ښار کې ور معلوم وه زیارتونه

یوه ورځ سهار وختي لاس په دُعا و

لوی ښتن ته یې زاری کړلې خواستونه

ویل خدایه ګناهونه مې مهاف کې

ما ته را مه کړې په برخه دوږخونه

دروازې دې د کرم کړه راته خلاصې

دښمنانو ته نصیب کړه دوږخونه

په طاعت مې سپیني کړې درته شپې دې

شپه په ورځ درته کوم عبادتونه

دې وطن کې دلته داسې بندګان دي

چې یې خوښ دي د لمانځه پر وخت خوبونه

نه زما چیغې نه آذان د ملا اوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پر نوم باندي کاڼه کي دوه غوږونه

په بستر کي يې اوږدې پښې غځولي

دوی به هم د جنت غواړي نعمتونه

پر ځای پروت کړ سر راپورته ویل خوار سې

له خپل خدایه درته غواړه جنتونه

څه مېلې کوه د حورو په لښکر کي

دربخښلي مي قصرونه کوثرونه

شل جنته او زر حوري دي نصيب سه

خدای ته ولي کوې زموږ شيطانتونه

ویرجینیا

2001- 8- 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تړلی خورجین

یوه ورځ صحرايي گرځېدی په ښار کي

کری ورځ يې تېره کړې وه بازار کي

چي څه شيان يې په بازار کي رانيوله

سمدستي يې په خورجين کي قلفوله

تر ماښامه يې ځان سترې په سودا کړ

دروند خورجين ډك له مالونو يې په شا کړ

سترې سوی کری ورځ و په مزلونو

په ملا کړوپ سو بوج يې زيات و د مالونو

د بازار له شورماشوره چي گوښه سو

په اوږو يې سا شړل يو ځای دمه سو

سترې ځان يې هغه دم خوله خوله سو

صحرايي په خرهاري سو بيده سو

غل ظالم تمامه ورځ په ده پسې و

چي هر ځای و صحرايي دی به هورې و

په کراره يې ترې پورته کړل مالونه

صحرايي ته يې ور پرېښوول خوبونه

نيمه شپه وه چي راويښ سو له خوبونو

ويې نه ليدی خورجين ډك له مالونو

په خواريو چي گټلي يې پيسې وې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تنهاکي یې لاسونه غبرګي پښې وې

هر څه تللي وه د ده په خوله ایرې وې

ورته پاته د غم پېټې اندېښنې وې

په ژړا سو په نارو سو په بغارو

چوکیدار یې هم خبر سو په چیغارو

یو ناڅاپه ور نه هېر سول ټول غمونه

په خورجین کي یې په یاد سول دوه قلفونه

چي یې ولیدې کیلۍ او خپل جېبونه

په خندا یې سره ټك وهل لاسونه

ویل خلك مي ساده بولي هوښیار یم

زه په عقل کي د غلو د مشر پلار یم

چي کیلي راسره ګرځوم تیاره

غل به څنګه کي پیدا خورجین ته لاره

د هغه وطن پر مال به د غلو شپه وي

پر میدان چي یې پرې ایښې خزانه وي

په میراث کیلۍ پاتېږي تر نسلونو

نه درك د خزانو وي نه قلفونو

ویرجینیا

2001- 8- 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قدرت نشه

پخوانیو زمانو کي یو لوی ښار و

چېرته لیري په شنو غرونو کي ایسار و

له نړۍ څخه یې بېل وه عادتونه

له مخلوقه یې جلا وه رواجونه

یو یې دا و له سلګونو رواجونو

پاچهي به هیچا نه کړل په کلونو

نه له پلاره پاتېده پاچهي زوی ته

نه هوس د میراث پاته کم او لوی ته

په دې ښار کي یې جوړ کړی یو میدان و

د ښار ټولو اوسېدونکو ته عیان و

هري درې میاشتي میدان کي غونډېدله

د قاضي مخي ته ټول حاضرېدله

لوی قاضي به ګیند را خوشي پر میدان کړ

او جارچي به په هغه ګړي اعلان کړ

که هر چا کړ دا ګیند پورته زموږ پاچا دی

پوره درې میاشتي امیر دی زموږ پېشوا دی

چي یې درې میاشتي د قدرت پر تخت تېرېږي

په هغه ورځ به یو لاس ورنه پرې کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهدان که د چا ډېر وه د ظلمونو

ترې به سترګه ایستل کېږي په سیخونو

نه دعوه نه بهانه سي څوك منلای

نه یوه ورځ پاچهي سي اوږدېدلای

په دې ښار کي د قدرت لېوني ډېر وه

پاچهۍ لره تر لاس تر سترګه تېر وه

د دوی مخي ته لاسونه پرې کېدله

لا د چا سترګه په سیخ ایستل کېدله

د قدرت ګیند چي به خوشي پر میدان سو

د نیولو په تکل به زوړ او ځوان سو

د قدرت دپاره هر یو تر لاس تېر و

هم د لاس هم یې د سترګي نعمت هېر و

چي په برخه به د هر سړي قدرت سو

چي به پورته څوك پر تخت د سلطنت سو

په غوغا به یې په ښار کي ځوان او زوړ کړ

په دریو میاشتو به یې زړه په خلکو سوړ کړ

پس له وخته به روان و کړه غاړه

چا او چا بایللی لاس او سترګه دواړه

یوه ورځ چي ګیند را خوشي سو میدان ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جارچي خوله وه سمه کړي و اعلان ته

چي راټوپ کړله ميدان ته يو وګړي

نه يې لاس و نه يې سترګه د زوی مړي

چا پوښتنه ورنه وکړله نادانه

ته په څه منډي وهې موږ يې له ځانه

په دريو مياشتو کي به لاس درنه اره کړي

يا دي ښايي بله سترګه در ړنده کړي

ويل درې مياشتي چي کړې مي نشه ده

لا په زړه کي مي هغه نشه تازه ده

لا هنوز لرم يو لاس او يوه سترګه

د قدرت نشه مي نه پرېږدي تر مرګه

که لاسونه مي پرې کېږي سترګي نه وي

د دريو مياشتو پاچهي به مي په ښه وي

په دريو مياشتو کي به ډېر کم بې لاسونو

ډېري سترګي به کم کمي له سرونو

چي قاضي وي چي دا ګیند او دا ميدان وي

په دې ښار کي داسي ډېر به لېونيان وي

ويرجينيا

2001- 1- 9

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یارانه

پخوانیو زمانو کي یو لوی خان و

پر باغونو یې ولاړ نیمی آسمان و

هم سخي و هم باتور هم ښکلی ځوان و

د زړه ډك لکه زمری و پهلوان و

مهربان پر یتیمانو پر خوارانو

پر پوښتنه و حاضر د رنځورانو

په پاللي همېشه مړه او ژوندي وه

په روزلي وه که غم و که ښادي وه

هره شپه یې مجلس تود و د یارانو

له قلا یې و ډغ پورته د سازیانو

چي سندري چا ویلې د ده مل و

چي په ښار کي ربابي و د ده خپل و

د چا غوړي وې چمبې په خیراتونو

چا یې وکړلې مېلې پر ذکاتونو

ډلي ډلي ورته ناست غوړه مالان وه

تر څپلیو تر ګامونو یې قربان وه

شل او دېرش یې نوکران او مزدوران وه

په سل ګونو یې د مځکو بزګران وه

په دعا یې هم کوچنیان وه هم لویان وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پلټنو یې یاران او مخلصان وه

خو هر ګوره نه یې ورور و نه یې پلار و

نه یې زوی په نصیب کړی کردګار و

درې څلور یې واده کړي ارتینې وې

د ګلونو تر ګېډیو ښایستې وې

هره ښځه یې ښایسته وه بې سینګاره

لکه سرو زرغونه وه بې بهاره

خدای نور هر څه وه ورکړي بې اولاده

زړه یې ډك و لکه زخم له فریاده

خیرات کړي یې پسونه او غوایان وه

نازولي یې پیران او درویشان وه

په دوا یې ستړي کړي طبیبان وه

ننګولي یې په ښار کي کوډګران وه

په قسمت کي یې زوی نه و رسېدلی

له اولاد سره خدای نه خندولی

غم او فکر وار په وار وربانديي زور سو

خان رنځور سو پر کور پرېوتی نسکور سو

لا یې تبي وې ملګري د دردونو

چي یې واورېدل د لویو تاوانونو

په دریاب کي یې ډوب سوي وه مالونه

په تاوان کي ورنه ولاړل جایدادونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو يې خرڅي کړلې مځکې شنه فصلونه

قلاګاني اورشوګاني لوی باغونه

د تاوان له غمه لا پسي رنځور سو

د مرګي په انتظار يې هر تربور سو

ورځ تر بلي يې زور زيات سو د دردونو

طبيبان يې سول عاجز له درملونو

نه اثر کاوه ملا او تعويذونو

نه اميد له لويو لويو زيارتونو

آوازه سوه خان له رنځه نه جوړيږي

يا به نن وي يا سبا کار يې خلاصيږي

ناجوړی ته يې عاجزه طبيبان دي

په تعويذ يې ستړي سوي ملايان دي

پر ځواني يې د مرګي لاري سپړي دي

پر فاني دنيا يې پاته يو څو شپې دي

په قلا کي يې نور نه وه هوسونه

نه ياران وه نه مستي نه پايکوبونه

نه له هري خوني پورته آوازونه

نه خوښي وه نه نغمې وې نه رقصونه

نه د خان په کور کي هره ورځ ياران وه

نه په ورځ کي تر ده سل ځله قربان وه

يو اشنای چي تر دا ټولو پر ده ګران و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خان دپاره ځان و هم جهان و

له سهاره تر ماښامه پر مېلمه و

لکه سیوری همېشه به ورسره و

ده به تل ویل که مال دی که مي ځان دی

تر وېښته مي قربان کړی د خپل خان دی

چي ژوندی به یم یوه ورځ بې له خانه

خدایه مرگ مي کړې په برخه له آسمانه

خدایه ته مي د خپل یار د بلا سپر کړې

د اجل غشی یې ما ته برابر کړې

خو چي ړغ سو د طبیب چي نه جوړېږي

خان که ژر وي او که وروسته روانېږي

نو اول ورځخه لیري هغه یار سو

له تربور سره ملگری سو اغیار سو

بیا یې نه وکړه د خان د رنځ پوښتنه

نه یې پل هغې کوڅې ته کړ دننه

په کوڅه کي یې د یار قدم پردی سو

د خان سیوری یې په سترگو کي اغزی سو

خو د خان اجل لا نه و رسېدلی

په تندي کي یې لا مرگ نه و لیکلی

لا یې پاته پر نابوده دنیا شپې وې

لا په برخه یې یو څو خوږې ترخې وې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بستر څخه راپورته سو روان سو

بیا په کلي په مالت کي ږغ د خان سو

بیا یې شاته ورپسې خپل نوکران وه

بیا یې خلك په ثنا صفت گویان وه

زوړ اشنای چېرته له لیري را پیدا سو

خان یې ولیدی له ورایه په خندا سو

ښه سو خدایه چي دي بیرته خان را جوړ کی

په دښمن او رقیبانو مي زړه سوړ کی

خان له یاره په گیله وکړه پوښتنه

نن دي څرنگه په یاد سوم درواغجنه

زه دا دوه کاله رنځور ومه ناتوانه

ستا په زړه کي یو ځل تېر نه سوم ناځوانه

یار یې خوله کړه ورته خلاصه ویل خانه

په پېغور پېغور مي مه شره له ځانه

دا دنیا د مړو نه ده د ژوندو ده

چي ژوندي وربانديي گرځي د هغو ده

طبيبانو ته ژوندی نه وې بللی

ملایانو هدیرې ته وې سپارلی

موږ هم نه وې حسابلی په ژوندو کي

ژر یا وروسته مو کتلې هدیرو کي

چي له مړو سره یاري کوي نادان دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېخبره له قانونه د جهان دی

اوس چي بيرته ژوندی سوی يې زموږ خان يې

په ژوندو کي تر هر چا راباندي گران يې

ويرجينيا

2000- 3- 20

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library